


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كتاب نوم: ((د ښځې حقوق په اسلام كښې))

ليكونكی: احمدشاه ( پوپلزی )

كمپوز : احمدشاه ( پوپلزی )

ډيزاين : احمدشاه ( پوپلزی )

اول چاپ :1380 هجري شمسي

دوهم چاپ: 1382 هجري شمسي كال

دقوس دمياشتي 10 نيټه 0

]پيښور _ پاكستان [

دچاپ حق محفوظ دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل گران پلار د ارواح خوښۍ په خاطر

وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا(19) البقره

(اول جلد)

الاهي تحفه

(و حضرت آدم علیه السلام ته) (ښځه)

**هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ**

البقره( 187) آیت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

موږ د ډيري زمانې راهيسي د داسي سوالونو سره مخامخ وو چي ګواكي د قرآن عظيم الشان په صفحاتو كي د ښځي د پاره بيخي ځای نسته . هغوئ بايد د يوه ژوندي موجود په حيث په كورونو كي و اوسي دعلم اوادب څخه بايد ليري وي دكاركولو اجازه ورته نسته...

موږ دا ګمان كاوه چي د حكومت عالمان نه غواړي دا موضوع په واضح ډول سره بيان كړي نو سترګي په لاره وو چي ګوندي زموږ ديني علماْ خپل ځانته دا حق وركړي او د حق يوه چيغه پورته كړي څو په اسلام مين ځوانان د هغو وشا ته ودريږي د دهري هيوادونو او غير اسلامي عقايدو درلو دونكو ته چي اعتراض كوي په اسلام كي د ښځي حقوق پايمال دي د سوك جواب ورحواله كړي ، او دا واضح كړي چي د ړندو پشان په لاري تګ د بينا انسان خاصه نه ده.

افسوس داسي مكمل قانع كونكي جواب چي خپله قرآن عظيم الشان يې په خپلو صفحاتو كي لري موږ د نورو نويسندګانو له خوا پيدا نكړ ځكه نو نعرې او غلبلي د هري خوا څخه شروع سوې او حتي زموږ بعضي اسلامي ځوانانو هم دا اعتراض د منافقينو له خولي څخه نقل كړ په داسي وخت كي چي د هجرت څه دپاسه 18 كاله كيږي اوزموږ اقتصاد د صفر څه نورهم  كښته سويدى په دې عزم را و پاڅيدو چي نورنو چپ كښينا ستل د خدای (ج) د هغه رسول او د اسلام پاك دين ته سپكاوی دي . د يوه مسلمان په حيث ژوند كول ولي د بيګانګانو تراعترا ضونو لا ندي چپ ناسته ظلم او تاريكي ده نو د پروردګارعالم په كمك او د قرآن عظيم الشان په مكمله همكارۍ د باغ د ګلونو څخه مو يوه غنچه د ګلو جوړه كړه څو وكولای سو هغه ګلبازانو ته چي هميشه دګلانو سره همرازدي يوه غنچه دګلو ورته تقديم كړو له يوې خوا به مو د عطرونو دمعطرو بويونو خوشحالي ور په برخه كړې وي او له بلي خوا څخه به زموږ د طرفه د ژوند بهترينه تحفه چي هغه ګل دئ ګلبازانو ته تقديم كړې وي.

علاوه پردې زموږ د ګلانو د غنچه درلودونكي كولاي سي زموږ دګلانو د ډك باغ تعريف او توصيف وكړي اودعواموجلب توجه ودې ته را وګرځوي چي كه چيري د چا ګلان پكار سوه نو د دې غنچې د باغ څخه دې لاس ته را وړي او هغه باغ ( قرآن عظيم الشان دئ ) . (( صدق الله وصدق رسوله ))

احمدشاه پوپلزي دشروع مياشت اوله دسرطان اواختتام داسد دمياشتي 31 نيټه د1380 هجري شمسي كال.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يادونه

په دې کتاب کي ډېره مهمه او پر زړه پوري جمله الا هي تحفه ده دا په دې خاطر غوره سويده چي زموږ د ټول مضمون اصلي هدف او مرام څرګنده وي يعني هرهغه څه چي ويل سويدي د همدي تحفي د را زونو څرګندوی دي . موږ دا مضمون په ډېرو لنډو الفاظو کي را غونډ کړيدئ په دې خاطر چي اصلي هدف اومرام په واضح ډول سره بيان سوی وي . د ويونکي د پاره ډېره آسا نتيا او د وخت نه ضايع کيدل هم په نظر کي نيول سوي دي اود بيا سوال د پاره هيڅ يوه خاليګاه او ځای نه وي پاته سوی ترتيب اوتنظيم سو .

د قرآني ارشاداتو او تفاسيرو او د حضرت محمد (ص) د پوره ارشاداتو ، اعمالو اوکردارو په نظر کي نيولو سره د ډېر بحث او څېړني وروسته شروع او د پروردګارد رحم او مهربانۍ په کمك سره اتمام ته ورسيدی . که څه هم احاديث نبوي په بخاري شريف اومسلم شريف کي هم ډېر وو خو صرف موږ د خپل دليل د ټينګولو د پاره د قرآن عظيم الشان څخه استفاده وکړه څود نړي ټول مسلمانان د دې پاك او مقدس کتاب نازيليدل بيځايه و نه ګڼي او دکمبود سوال په کښي پيدا نه کړي.

داکتاب چي پردرو برخو ويشل سويدئ اوله برخه يي د ذهن د روښانه کولو ، دوهمه برخه يي د ذهن د اماده کولو او دريمه برخه يي د عملي کولو په غرض او بنياد په نظر کي نيولو سره ترتيب او تنظيم سويدئ . اميد لرم ګران مينه وال د خپلو پاکو احساساتو په درلودلو سره حقيقت او څرګنده تحفه په غور سره مطالعه او ترخپل نظر لا ندي تير کړي ، څو وکولاي سي د بشر د حقوقو څخه د دفاع په خاطر مستقيم او حقاني دليل ولري . خصوصاً زموږ خويندي بايد ددې مضمون څخه په ګټه اخيستلو سره د دښمنانو سوالونه رد او دبې بنياده نظريو د رسوا کولو د پاره ځانونه چمتو کړي.

ومن الله توفيق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمن الرحيم

## ((قرآّن اوښځه))

لمړي دښځي موجوددیت :

داسي معلومیږي په جهان کي دوې نظریي موجودي دي.

.1 ماتریالیزم 2. آّیدیالیزم

اول ماتریالیزم :

ددې ډلي پیروانان ننني کمونستان دي . دوی داسي مفکوره لري (( ماده نه خلق کیږي اونه دمنځه ځي )) بلکه دیوه حالت څخه په بل حالت تبدیلیږي . کومه ماده چي داول څخه موجوده وه خود بخوده طبیعت راوستې ده . انسانان هم دهمدې تغیر په واسطه پیداکیږي ،لکه نور نباتات او حیوانات اوهمداسي مري . یعنې د آّخرت د ورځي ، سوال او جواب اوالا هي قدرت څخه منکر دي او په بیا ژوندي کیدو باندي عقیده نلري . دنیا همدا ژوند بولي او همدا غرض . موږ دلته پخپل بحث کي په دوی غرض نلرو او نه هم د دوی د ذهنونو څیړنه کوو. صرف د معلوماتو د اضافه کیدو په خاطر لنډ بحث و سو .

دوهم : آّیدیالیزم:

آّیدیالستان په دې فکر اوعقیده دي چي د انسانانو او ټولو کائینا تو پیداکونکی رب العزت الله جل جلاله دی . هغه ذات چي باقدرت او د انسانانو د تفکرڅخه لیري دی همداخدای (ج) دی چي د خرافاتو، پوچو او بیځایه اعتقاداتو د محوه کولو په غرض یې د همدې خپلو بندگانو(انسانانو) له جملې څخه غوره بندگان ( صالح او خیر خواه ) د خپل استاذي په ډول د رسالت په معني نه د وکالت په معني مقرر کړیدي چي موږ هغو ته پیغمبر یا نبي وایو اوهریوه دالا هي استاذي په شکل الا هي کتاب څخه گټه اخیستل . لکه تورات ، زبور ،انجیل اوقرآّن . دې پیغمبرانو او انبیاوو دالا هي کتابونو څخه دخپل امت د پاره لاري اوقوانین درلودل . موږ د قرآّن عظیم الشان د مقدس کتاب په درلودلو سره د ټولو هغه آّسماني کتابونو او صحیفو قبلونه کوو چي په هغه وخت کي ( ترحضرت محمد (ص) نه مخکي ) موجود وه خو د شریعت غُراْ محمدي په راتللو سره د هغه کتابونو او قوانینو پابند نه یو، ځکه موږته پروردگارعالم جامع اوکامل کتاب ( قرآّن ) په تحفه کښي راکړیدئ او د پخوانیو پیغامبرانو حالت او احوال یې په منظمه اوکامله توگه تشریح کړیدئ او نوریې د فعلاً د پاره بې اعتباره گرځولي دي . ځکه خوموږ دلته د قرآّن عظیم الشان ارشادات څیړو څو وکولای سو هرهغه سوْ تفاهمات چي د خلگو په ذهنونو کي ثبت دي لیري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای سو.اودا ثابته کو چي ګناه او د هغې مرتکب انسان دی نه الاهي قانون . دلته موږ د ښځي حقوق داسلام د مقدس دین له نظره څیړو او دا ثابته کولای سو چي فقط په نړۍ کي د انسانانو د قانون او برابرئ محافظ همدا د اسلام مبارك دین او موجوده د پرور دګارعالم کلام یعني قرآن عظیم الشان دی دا ځکه چي پرور دګارعالم دې دین ته کامل ویلی دئ لکه چي فرمایي :

الْيَوْمَ ۮكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَۮتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمْ الْۮسْلَامَ دِينًا ( المائده آیت 3 )

ترجمه: موږ نن ورځ ستاسي دپاره مکمل وګرځاوه دین ستاسي اوتمام مي کړه نعمتونه خپل پرتاسي باندي اوغوره مي وګر ځا وه ستاسي دپاره دین داسلام .

دامبارك آیت هغه آخرنۍ لاربښوونه ده چي د ډیرو علماوو بلکه اکثریت عقیده پردې ده چي دا آخرنی آیت دئ چي پررسول کریم (ص) باندي نازل سویدئ . او پس له دې څخه بیابل آیت نه دئ نازل سوئ . مخکي له دې چي د دې مبارك آیت په تحلیل او څیړنه پیل وکړو باید و وایو اصلي هدف چي د اسلام څخه دئ و څیړو دا څنګه کلمه ده ؟

چاوویل ؟

څنګه منځ ته راغله ؟

اوڅه معني لري ؟

اسلام: داهغه کلمه ده چي زموږ نیکه حضرت ابراهیم علیه السلام

دخپل شوق اومحبت په توګه ویلې او پیروانان یې د اسلام یا مسلمانانو په نوم معرفي کړیدي . لکه چي قرآن عظیم الشان په دې باره کي فرمایي.

وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّۮ ۮبِيكُمْ ۮبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمْ الْمُسْلِمينَ مِنْ قَبْلُ ( الحج ایت 78 )

ترجمه : نه یي دئ ګرځولی پرتاسي باندي کم زوراومشقت په دین کښي . تاسي مطابعت وکړي د پلارخپل ابراهیم علیه السلام او نوم د اسلام هم ده ایښي دی مخکي.

داسلام معني : داکلمه هرڅوك پخپل ذهن سره معني کولای سي په داسي شرط چي دسلامتۍ، سالم والي اوتسلیمیدلو معني ولري . ځکه دا لفظ هغه وخت رایج سوچي د ابراهیم علیه السلام د خولي څخه راو وتی . په تا ئید د دې خبري ټول ادیان چي د حضرت ابراهیم علیه السلام د زماني څخه د حضرت رسول اکرم (ص) ترمبعوث کیدو پوري منځ ته راغلي دي په هغه شرط چي د پروردګارعالم ارشاداتو انبیاْ علیهم السلام او پیغامبرانو ته یې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیم غاړه ایښې وي هم ویل کیږي ، خود حضرت محمد (ص) ترمبعوث کیدو وروسته هغه ټول پخواني ادیان محوه سوه اوصرف د حضرت محمد (ص) دین د اسلام په نوم و پیژندل سو.

دلته پرهمدې خبري باندي کفایت کوو ځکه د خپل اصلي هدف څخه وزو (دښځی قوانین په قرآن کي ) څومره حقوق لري او په کومه اندازه کولای سي په جامعه کي خپل رول په مثبته او سالمه توګه و لوبوي . دکاردکولو اوعلم د حاصلولو په غرض ترکومو شرائیطولا ندي کولاي سي فاعل سي داځکه موږ د حداو حدود نوم ذکرکړځکه چي اسلامي جامعه اوغیراسلامی جامعه یود بله متضاد قوانین لري اوهیڅکله یوه مسلمانه ښځه د غیراسلامي جامعي د ښځونمایندګي نسي کولای دلته یوه لا ز مي خبره لرو هغه ؛

اول : بعضي مسائیل او سوالونه د انسان په ذهن کي را ګرځی چي د هغوی جواب ممکن نه دئ . مثلاً د رب العزت لیدل په دې دنیاکی، د جنت او دوږخ لیدل ، دقبرعذاب ، سوال او جواب او نور . موږ په الاهي دین کښی دوه قانونه لرو .

اول: عقیده او ایمان درلودل په غیب سره:

مسلمانان په آمنت با الله (الایه) سره کامل ایمان لري داځکه چي بیله خاصي عقیدې څخه مسایل نه حل کیږی اونه هم د هغو د پاره کوم مکمل عقلی دلیل وړاندي کولای سو ځکه اکثره مسایل د انسان د واك او اختیار څخه وتي دي باید پرې  بحث ونه سی او چوپه خوله اختیارکړي.

دوهم: د ژوندانه د سمون د پاره هراړخیزقوانین سته چي هر انسان د خپل مغز اوذهنی افادې په واسطه کولای سی تشریح ولری.

ددې خبري ویل ځکه موږ ته ضروری وو چي په راتلونکي بحثونوکی به دا ثابته سي څنګه سوال اوڅنګه جواب . موږ د مخه یولنډ بحث درلودی چي په ځینو مواردو کښي مسلمانان صرف ایمان په غیب سره لری چي یوه خبره همدلته داده:

اول: دانسان پیدایښت بیله پلاره اوبیله موره.

دوهم: دانسان پیدایښت بیله موره.

دریم: دانسان پیدایښت بیله پلاره.

دادرې خلقتونه رب العزت دخپلی خدایي دښکاره کولواوثابت کیدو په غرض دخپلو نورو خلقتونوپه لړ کي درولی دی .

اول یې بابا آدم علیه السلام چي نه مورلری نه پلار.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم يې بي بي حوا( رض عنها) ده چي پلارلرى يعني باباادم عليه السلام ولي مورنلري .

دريم حضرت عيسى عليه السلام دئ چي مورلري يعني بي بي مريم ولي پلارنلري . ويونكي دي دلته پوښتنه نه كوي چي دادري خلقته څنګه وسوه؟ ځكه مورمخكي دامنلى وه چي

بعضى سوالونه په مكمله توګه جواب نلري كه څه ناڅه هم ووايو بياهم قانع كونكئ دليل نسو پيداكولاى نو ځكه وايو چي ايمان په غيب سره درلودل زموږ خاصه ده . كه څه هم و وايوپه قرآن عظيم الشان كي دهريوه دپاره ډيردلا ئيل وړاندي سويدي لكه د بابا آدم عليه السلام په باره كي ، چي د مځكي د مخ وچه خاوره او بيا د هغي غونډيدل په خټو ا وښتل او بيا په پاخه توګه تبديليدل بيا وروسته د بابا ادم عليه السلام وجود دهغي خټې نه په الاهي امرسره ، او بيا د بي بي حوا ( رض عنها ) پيداكيدل د بابا ادم عليه السلام څخه چي هغه بيده ووكله چي راكښې نستې د هغه د چپه پښتې څخه بي بي حوا پيداسوي وه او د حضرت عيسي عليه السلام پيداكيدل او د حضرت جبرائيل عليه السلام نزول و بي بي مريمى ته لكه چي په 16 سپاره كي د قرآن پاك دا قصه په تفصيل سره بيان سويده ، خو بياهم وايي په سوال كي سوال پيدا كيږي صرف عقيده وي مسئلې دي د هرهغه چا د پاره چي دپروردګارعالم پر وحدانيت باندي بلا شك وشبه ايمان لري د ارتباط په خاطرچي پوه سو ښځه څنګه پيداسوه ؟

ولي پيداسوه ؟

اوڅومره حقوق لري ؟ دامبارك آيت را اخلو.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا( ايت 189 ) الاعراف

ترجمه : همدغه رب العزت دئ چي تاسي يي خلق كړي ياست د يوه انسان څخه اوګرځولې يې ده( پيدايې كړه ) د دغه انسان څخه ښځه په خاطرد دې چي د ده زړه آرام او تسكين سي .

انشاّ الله د پورته سوالونو جواب په مكمله توګه سره پيداسو.

تفسير: كه په غورسره دامبارك آيت ترخپلي څيړني لا ندي ونيسو دا به راته معلومه سي چي د بي بي حوا پيدايښت په هرقسم چي وو د حضرت بابا آدم عليه السلام په خواهش او د ده د آراموالي د پاره وسو. ځكه د حضرت آدم عليه السلام اوسيدل په يوازي توګه د ده خپل د پاره د قبول وړ نه وه ،انسان اجتماعي خصلت لري او يوازي والى يوازي دالله (ج) د پاره بس دى . بل داچي پروردګارعالم اكثره مخلوقات جوړه جوړه پيداكړيدي چي آينده په پرې بحث وكړو ځكه حضرت آدم عليه السلام هم د خپلى جوړې د پاره غوښتنه او دوعاګاني كولى . كه څه هم آدم عليه السلام ښځه نه وه ليدلې او تصوريي د ښځي هم نه درلودئ خوپروردګارپخپل كامل علم سره پوهيدى چي د ښځي ضرورت لا زمي دى . ځكه د ژوندانه رونق هم بيله ښځي څخه سمون نه خوري او په اصل كي د كورونو د ترتيب او هم روښانه ساتلو د پاره يونه هيريدونكى جزدى ، نوځكه يې دا نفيس او باقدرته انسان غوره كړ چي په هره زمانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهروقت كښي ورته بې حده ضرورت ليدل كيږي. اوكه مبالغه ونكړو  بايد وويل سي چي ژوند بيله ښځې څخه كامل نه بلكه نيمګړئ دئ او هغه هم په تياروكي . دا برتري د لمړي ځل د پاره پروردګارعالم و بي بي حوا ته وركړه . اوس به څنګه سترګی پټي كړو او ياهم و وايو چي ښځه بې اهميته ده او ياهم په كورونوكي د زينت وسيله ده . هغه وخت چي زموږ پلار آدم عليه السلام نا آرام او بې كراره وو دامعني نه وه چي ګواكي هغه وږي او تږي وو او ياهم دكور د جنجال ( صفايي ) او ديګ پخولوله امله په تنګ راغلی وو او ياېي هم ټوله ورځ جاروب كاوه ، بلكه هدف دلته وو چي د خپل همجنس په نه درلودلو سره يې دكمبود احساس كاوه خبروكولو او جواب اخيستلو د پاره يې هم جنس نه درلودئ ځكه نو نا آرام ښكاره كيدئ په دې خاطر چي په آينده كي خوشحال آرام اود ژوند په تيرولو كي سعادت ور په برخه وي اود نورو موجوداتو په څير دی هم جوړه ولري و پروردګارعالم ته په زاري وو. پروردګارهم د ده د خپل وجود څخه د حضرت بي بي حوا رض عنها ) پيداينښت وكړ  دا په دې خاطر:

هرهغه څه چي په مشكل او زحمت سره لاس ته راځي هغه ډير ګران او با ارزښته وي او هيڅوقت د هغه د ضائيع كيدو طرز نه منل كيږي خو بل عكس كه په ډيره ارزانه او ياهم مفته توګه كم سوغات او ياهم د ژوند د ضرورياتو اسباب د بنده ولاس ته ور سيږي د هغه قيمت او قدرلږ وي . په همدې وجه پرور دګار عالم دده د خپل وجود څګه د ده هم جنس په داسي وخت كي پيدا كړه چي هم د ده انتهايي ضرورت وو اوهم د ده د بدن يوه ټوټه وه چي ضرور د ده د محبت سبب سوه اوداسي يوه تحفه وه چي هم د نسل د ډيروالي ، هم د خون شريكی او هم د ضرورت جز لاينفك وو . د پروردګارعالم مقبول ترين بنده سردار دو عالم حضرت محمد (ص) څخه د لورد پيداينښت په باره كي داسي ارشاد دی . (( په هغه كوركي ځلوينښت ورځې نوراوري چي هلته لور پيداسي )).

دوهم دليل:

كله چي حضرت آدم عليه السلام دبي بي حوا (رض عنها) سره  د جنت څخه و مځكي ته راكښته سو نو د نسل د ډير والی په خاطر د رب العزت د خوا څخه دا قانون ورته وضع سو چي ورور دي خور په نكاح كړي لكه چي همداسي كيدل .

د حضرت آدم عليه السلام دوه زامن وه ( قابيل اوهابيل ) دي دواړو د خپلي خور پرسرلا نجه جوړه كړه په دې معني چي هريوه د دوي غوښتل دا خپله خور په نكاح كړي ځكه دا خور ډيره  حسينه ، هوښياره او چالاكه وه ، كه څه هم دا انجلی خپل پلار ( آدم عليه السلام ) وهابيل ته په نكاح وركړه خود دې انجلی هغه  وروږچي ددې سره يوځاى دموږپه رحم كي موجود وو او دوي دواړه په دوګانګي شكل سره پيداسوي وه د قابيل پنوم يا ديده مخالفت وكړترڈې اندازې چي خبره جګړې ته ودريده او قابيل هابيل و واژه كه څه هم د دوی پلار و دوی ته د خيرات كولو پيشنهاد كړی وو چي د هريوه د خيرات د قبول كيدو په صورت كي دي هغه اقليما نكاح كړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصه به رالنډه کړو نتیجه اخلو :

دا منازعه د ضرورت په خاطر وه نه د مال او متاع په لحاظ . ځکه موږ پورته و ویل د ښځي موجودیت اود هغي ضرورت په جامعه کښي یوضروري اود نظره څخه نه لویدونکې بحث دی. په همدې خاطرب العزت پخپله د ښځي موجوددیت لا زمي او ضروري عنصر ګڼلئ دی . ځکه نورو مخلوقاتو ددې ځای نسو نیولای . قابیل اوهابیل هم ددې مفکورې په درلودلو سره دا غوښتل چي خپل کور او ژوند ته لا رونق ورکړي اود هرانسان هم دا خواهش دی چي تر نورو برتره اوسي .

دریم دلیل:

موږ ته دا ثابته ده چي ژوند بیله ښځي څخه نیمګړی دی په دې ترتیب دخپل ثبوت د لا ټینګولود پاره دموسي علیه السلام دمور بیان په لنډ ډول داسي بیانوو ګ فرعون خوب ولیدی چي د بیت المقدس د طرفه څخه اور راسي اوپه مصر کښي دمصریانو کورونه سوځي خود بني اسرائیلو په کورونو کي نه ننوزی اوهغوئ سلامت پاته کیږي . امرصادرسو چي د وخت عالمان دي د خوب تعبیر وکړي . د زماني او وخت راهبانو په ګډه سره دا فیصله وکړه او فتوا ْ صادره سوه (( په بني اسرائیلو کي یوماشوم پیداکیږي ستا سلطنت او پادشاهي ختموي )) .

فرعون چي دا جواب واو ریدئ امر یې وکړ د هربني اسرائیل په کور کي چي هلك پیدا کیږي هغه و وژنی . تردې اندازې چي د بني اسرائیلو اویازره تنه ماشومان و وژل سول . د حضرت موسي علیه السلام په پیداکیدو سره د هغه مور ډیر وارخطا سوه او نه پوهیده چي څه وکړي اودا هلك چیري پټ کړي ځکه د فرزند وژل هغه هم د موربه مخ کي د صبراوتحمل څخه لیري کاردئ.

پروردګارعالم د تجویزپیش کولو په خاطرد دې هلك مورته داسي فرمایي.

ﺇِﺫْ ﺃَﻭْﺣَﻴْﻨَﺎ ﺇِﻟَﻰ ﺃُﻣِّﻚَ ﻣَﺎ ﻳُﻮﺣَﻰ(38)ﺃَﻥْ ﺍﻗْﺬِﻓِﻴﻪِ ﻓِﻲ ﺍﻟﺘَّﺎﺑُﻮﺕِ ﻓَﺎﻗْﺬِﻓِﻴﻪِ ﻓِﻲ ﺍﻟْﻴَﻢِّ ﻓَﻠْﻴُﻠْﻘِﻪِ ﺍﻟْﻴَﻢُّ ﺑِﺎﻟﺴَّﺎﺣِﻞِ ﻳَﺄْﺧُﺬْﻩُ ﻋَﺪُﻭٌّ ﻟِﻲ ﻭَﻋَﺪُﻭٌّ ﻟَﻪُ ﻭَﺃَﻟْﻘَﻴْﺖُ ﻋَﻠَﻴْﻚَ ﻣَﺤَﺒَّﺔً ﻣِﻨِّﻲ ﻭَﻟِﺘُﺼْﻨَﻊَ ﻋَﻠَﻰ ﻋَﻴْﻨِﻲ( طه ایت38 _ 39)

ترجمه : هغه زمان چي وحي وکړه موږ په وحي کولو سره واچوه ( دغه هلك ) په صندق کي اوبیا وغورځوه داصندق په دریاب کي پس ودي غورځوي داصندق دریاب په یوه څنډه کي چي ونیسي دی ( پیداکړي ) دښمن زما اودښمن دده واچوله ماخپله مینه په تا باندي چي تربیت وسي ستا زما ترنظرلا ندي.

تفسیر: هلته د فرعون په کورکي هلك نه ووکله چي نوموړي صندق د اوبو په منځ کي د فرعون وکورته داخل سو نود فرعون ښځي امر وکړچي صندق د اوبو څخه را وباسی . د هلك په لیدلو سره ډیره خوشحاله سوه ځکه پروردګارعالم د دې په زړه کي دموسي علیه السلام مینه اومحبت دومره ډیر ور پیدا کړ چي هغه یې پخپل اسرارسره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زوي په نوم وبللى . فرعون اسرارکاوه چي داهلك زموږ دښمن دئ اودده وزيرانو هم داخبره تائيدوله خو د فرعون ښځي هغه ټوله پرله پسي رد کول . تردې اندازې چي يوه ورځ موسي عليه السلام د فرعون په بغل کي دهغه ږيره کش کړه فرعون په غضب شو او وې ويل داهم هغه دبني اسرائيلو هلك دئ . ولي رضاعي موريې وويل نه داماشوم دئ . په ښه اوبدکله پوهيږي ،امتحان يې کړه .

روايت دئ چي وايې د فرعون ښځي امر وکړ يوه د اورسکروټه اويوه ټوټه سره زرديې را وړل سي اوددې هلك په مخ کي دي پراته وي چي فرعون پخپله ددې حرکت اندازه وکړي . هلك کوم يوه ته لاس اچوي . وايي موسي درب العزت په لارښوونه واورته لاس واچوئ اوهغه يې وخپلي خولې ته يو وړئ چي ژبه مبارکه يې په وسوځيدل ځکه خود فرعون ښځي ښه دليل پيدا کړ او اسرارې په دې کاوه دامعصوم بې ګناه دى . رب العزت ددې په زړه کي دميني اومحبت ګلان غوړولي وه اوغوښتل يې ددې په واسط موسي لوي سي.

نتيجه : که چيري د دې دوو ښځو( دموسي د موراود فرعون ښځي ) موجوديت نه واى نوحضرت موسي به څنګه او چيرته لوئيدى؟ ( الله پاك په هرڅه باندي قادر دئ خو )

د صندق تدبير اود هغه وړل د فرعون کورته او هلته لوئيدل د موسي د رب العزت رضاْ وه چي ددې دوو ښځو په واسطه ترسره سول .

ځلورم دليل:

موږ په دې ډير غټ اوطولا ني بحث کي فقط هغه خبري چي زموږ غرض وو را واخيستې د دې لپاره چي خپل دليل قوي کړاى سو . ويونکي دي خپل سوالونه په نورو کتابونو کي حل کړي . صرف دقرآن عظيم الشان د16 سيپاري دمريم دسوره نه موږ لنډه افاده رااخيستې هغه هم داده رب العزت فرماي

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذْ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا(16)فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا(17)قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَانِ مِنْكَ إِنْ كُنتَ تَقِيًّا(18)قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا(19)قَالَتْ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُنْ بَغِيًّا(20)قَالَ كَذَلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَقْضِيًّا(21) مريم

ترجمه : يادکړه په دغه کتاب کي قصه دمريمي کله چي لاړه دخپلي کورنۍ څخه هغه ځاى ته چي په شرقي طرف د بيت المقدس کي وه نويې پرده ونيول ( دپاره دغسل دحيض ) نو وليږئ موږ دې ته ( پس له غسل اوجامواغوستلو نه ) روح خپل ( جبرائيل عليه السلام ) پس شکل يې خپل جوړ کړ ديته دکامل ځوان پشان . کله چي بي بي مريمي دا ځوان وليدى نو وې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پناه غواړم په رحمن سره له تانه كه ته يې پرهيزګاره( زماڅخه ليري ولاړسه) جبرائيل عليه السلام وويل :

بيشكه همدغه خبره ده خو زه راليږلئ يم رب ستا د پاره ددې چي و بخښم تاته ( په امر درب ) يوهلك صالح او پاك .

مريمي و ويل : څنګه به پيداسي ماته زوی حال داچي نه دئ رسيدلئ ماته هيڅ بشر( نكاح مي نه ده تړلي ) او نه هم زه بدكاره وم هيڅ چيري .

و ويل جبرائيل عليه السلام : همداسي ده لكه ته چي وايې خو رب العالمين فرمايي چي دا كار پما باندي ډير آسانه دئ الايه لنډه داچي حامله سوه او بيا حضرت عيسي عليه السلام تولد سو بيله پلاره څخه . زموږ مقصد اصلاً په بي بي مريمي باندي  دئ مريم په معني كښي خدمتګارته ويل كيږي په دې معني د بي بي مريمي مورد ځانه سره داعهد كړي وو كم هغه اولاد چي د دې څخه و دنياته راځي هغه به د بيت المقدس د خدمت د پاره وقف كوي . ځكه نو د بي بي مريمي ژوند د بيت المقدس د پاره چي خدمت وكړي وقف سوئ وو . په هرصورت كي چي وو بي بي مريمه ډيره پاكه _ صالحه او پرهيزګاره انجلۍ وه . د دې دعفت او پاكۍ په باره كي پروردګارعالم 23 ځايه په قرآن عظيم الشان كي صفت كړيدی . اوحضرت عيسي عليه السلام په زانګو كي د خپلي مور د پاكۍ اود رب العزت د وحدانيت سبق خلګوته كاوه.

نتيجه : پروردګارعالم خپل بندګان نه هيروي اونه يې هم دلهو لعب د پاره پيداكړيدي . هغه څوك چي د رب العزت عبادت كوي الله پاك هم هغه د حكمت او درجې خاوند ګرځوي . د دې خبري په تائيد سره موږ ويلاي سو . پروردګارعالم وښځي ته هم لويه درجه وركړيده . تراوسه چي موږ د ښځي په باره كي معلومات وړاندي كړيدي هغه ټول قرآني ارشادات اوالاهي كلام وو چي يوه هم همدغه د بي بي مريمي قصه وه . كه په د قيقه توګه سره ورته وګورو دومره لوی عظمت او دبدبه د بي بي مريمي ساده خبره نه ده.

پنځم دليل:

كه چيري خبره په عقل اومنطق باندي ولاړه وي اونارينه خپل ځان ته داحق وركوي چي د بل انسان حق تر پښو لا ندي كړي هغه نادان او سرپيچونكي وګڼی نو راسي د دې واقعې څخه چي قرآن د هغه نه روايت لري ځانونه باخبر كړو اوتصديق كړو دا خبره چي د علم در واژه د هرانسان په مخ باندي خلاصه ده د حضرت سليمان عليه السلام نوم ټولو مسلمانانو اوريدلی دی . خود ده په څنګ كي د بي بي بلقيس نوم هم بايد د ياده څخه ونه باسو . قصه داسي ده حضرت سليمان عليه السلام د بيت الله شريفي د زيارت څخه وروسته د يمن وخواته په سفر آغاز وكړ. ترڅه منزل وروسته يې اراده وكړه په هغسي ځای كي چي ډيره شين ګياه وه لږ څه دمه وكړي . هُد هُد چي موږ ورته ملاچرګك وايو د موقع څخه ا ستفاده وكړه هوا ته والووت او د باغونو ننداره يې كوله چي د بل مرغه سره يوځای سو او هغه ورته د بي بي بلقيسي شان او شوكت و ښووئ چي د دې ملك پادشاهي يې ترخپلي اداري لا ندي راوستي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه . حضرت سليمان عليه السلام د هُدهُدپه غيب كيدلو سره په قهرسو. اراده يې وكړه چي هُدهُد ووژني هغه ورته دعجائيبي قص بيان داسي وكړ:

ددي ملك پادشاهي ديوې ښځى په واك كي ده . اوداهغه خلگ دي چي ولمرته سجده كوي . ستا د قدرت اوامرلا ندي نه دي .

حضرت سليمان دمعلومولو دپاره يوخط داسي وليكى .

ﺇِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَﺇِنَّهُ بِاسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيمِ(30)ﺃَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَﺃْتُونِي مُسْلِمِينَ(31) الايه ( النمل )

ترجمه : بيشكه دغه( ليك ) د سليمان د خواڅخه راغلى دئ او بيشكه ( مضمون د دې ليك دادئ چي شروع په نامه دالله چي خورا ډير مهربانه او ډير رحم والادئ . لويي اوكبرمه كوي تاسي پرما اوراسئ ماته مسلمانان او غاړه ايښودونكي.

قَالَتْ يَاﺃَيُّهَا الْمَلَأُ ﺃَفْتُونِي فِي ﺃَمْرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً ﺃَمْرًا حَتَّى تَشْهَدُونِي(32)قَالُوا نَحْنُ ﺃُوْلُوا قُوَّةٍ وَﺃُولُوا بَﺄْسٍ شَدِيدٍ وَالْﺄَمْرُ ﺇِلَيْكِ فَانظُرِي مَاذَا تَﺄْمُرِينَ(33)قَالَتْ ﺇِنَّ الْمُلُوكَ ﺇِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً ﺃَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا ﺃَعِزَّةَ ﺃَهْلِهَا ﺃَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ(34)وَﺇِنِّي مُرْسِلَةٌ ﺇِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ(35) الايه النمل

كم وخت چي داخط بلقيس ته ورسيدئ هغي د خپلو وزيرانو سره په تخت باندي ناسته وه وې ويل :

ترجمه : وويل بلقيسي اې اشرافو مشهوره راكړئ تاسي ماته په دغه كار زما كښي ، نه يم زه فيصله كوونكي دكوم كارترهغي پوري چي حاضرسئ تاسي ماته ( مشهوره راكړي ) . و ويل دغو اشرافو چي موږ خاوندان د قووت او زور يو او خاوندان دجنگ سخت امراوحكم تاته دئ پس وگوره ته چي دڅه شي حكم كوي ته ( پرموږ باندي چي وي منو ) وويل بلقيسي بيشكه پادشاهان هركله چي ننوزي په كوم كلي ( ښار ) كي خرابوي دوى هغه ښار اوگرځوي دغه ( پادشاهان ) عزيزان ( مشران ) داهل دهغه ذليلان اوهمداسي دوى كوي . بيشكه زه ليږونكي يم دوى ته سره له هديه ( سوغات ) پس بيازه كتونكي يم چي په څه حال بيرته راځي دغه ليږل سوي .

همدارنگه د ژوندانه جرياناتو په سريع ډول كارونه دحضرت سليمان عليه السلام په نفع تمام كړه او بي بي بلقيس مسلمانه سوه بلاخره د همدې سليمان عليه السلام په عقد كي راغله .

نتيجه : وگورئ دې لوى اوسنجيده تدبيرته چي خپل قوم او خپل ملك يې د جنگ او ويرانۍ څخه وساتې كه څه هم د دې وزيرانود جنگلاره خوښه كړيوه چي هغه هم ټوله جنگيالي نارينه وه . په څومره ځيركۍ سره يې اول ورته د تحفه پيشكش وكړ بيا د دوهم ځل د پاره يې د خپل تگ تدبير ونيوى .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ وينو او ليدلي مودي په جهان کي څومره قووتونه کم چي د نارينه وو په اختيارکي راغلي دي د ويرانۍ سبب ګرځيدلي دي مګردالاهي مرسلا نو نه بغيرچي د هغوي ټوله مرام د ملك او خلقواّرامتياوه . ددې قصي څخه دا نتيجه ده چي د علم ډيروالی اولړواالی په نراوښځه پوري اړه نلري خوفيزيکي حالتونه بيله مسئله ده .

شپږم دليل:

هغه وخت چي رسول اکرم ( ص ) دحرادغره په يوه غارکي په عبادت باندي اخته وو د الله پاك ( ج ) له خوا وبندګانو ته په خدمت کولو باندي ماْ مورسو اوداې ورته وښودل

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ(1)خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ(2)اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ(3)الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(4)عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(5) العلق ترجمه:شروع وکړه په نامه د پروردګارخپل هغه ذات چي کائنات يې خلق کړيدي . اوخلق کړي يې دی انسان د دټړلي سويويني څخه .و وايه دا چي رب ستا لوی کريم دی هغه ذات دی چي ښوونه يې کړيده په قلم سره اوښوونه يې کړيده وانسان ته د هغه څه چي مخ کي نه پوهيدۍ . کله چي کورته راغۍ اوخپله قصه يي وبې بي خديجي ته وکړه د پروردګارعالم د مهربانۍ او رحمت له امله په هغه ساعت بي بي په محمد(ص) باندي ايمان راو ړی اود مسلماني ښځي په نوم مشهوره سوه .دا اولنۍ انسان او ښځه وه چي په پيغمبر باندي ايمان راوړئ اوهغه يې تصديق کړ اوقبوله يې کړه محمد پيغمبرد اّخر زمان دی . ترخپل هرڅه تيره سوه .خپل مور، خور،پلار، قوم ،قريه او ټول دوستان يې ترشاه کړل خود حق ويلو څخه يې انکارو نه کړ. که څه هم دا پخوا تجار پيشه ښځه وه د مالداري کورنۍ څخه وه د ژوندانه په هرڅه باندي پوهيدل ، د هغه وخت د سياست ، ګټي او تاوان سره ښه بلده وه بيايې هم دا ټوله د ترازو په يوه تله کښي وا چول اود رب العزت په هدايت سره يې د اّخرالزمان حضرت محمد (ص) محبت اوصداقت په بله پله د ترازو کي واچاوه مشاهده يې کړل په زرګونو جايداد، خپلولي او تجاري سامان په تله د ترازو کي واچوم بيا هم سپك دي . ځکه يې د خوب تعبيرمعني سو . کلك عزم اوپخه اراده د دي باعث سوه چي ځان داسلام په لمړني ليکو کي حساب کړي خپل نوم په لمړي قطارکي ثبت او جها نيانوته دا وښيي چي ښځه هم د پوره واك ، اختياراو عقل درلو دونکي ده . د نراوښځي ترمنځ د عقل اوايمانداری په منځ کي هم توپير نسته خو په بيولوژيکي ساختمان کي چي کومي نيمګړتياوي ليدلي کيږي هغه د خدای (ج) کاردی نه دعقل کموالۍ . په همدې منظور که چيري بي بي خديجې ( رض عنها) د رسول کريم (ص) پيغمبري نه وای منلي آيا دا کور اوکهول د پيغمبربه څه رنګه وو؟ په داسي حال کي چي حضرت محمد (ص) د پاره د کورنه د باندي هم ځای کافرانو نه وو پرې ايښي اوخدای نا خوا سته په کورکي هم بي بي ورسره شخړي کولای دا ژوند به څنګه تيريدلای ؟ . موږ په دې باره کي ډير ښه ضرب المثل لرو.

))د بهر غم به په کورکي حل کړو خو دکورغم به چيرته يوسو ((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دي خبري ته په کلکه موږ متوجه سوحتماً نتيجه اخلو ښځه هم ذهن لري اوکه د تعليم او تربيي څخه ليري و ساتل سي دکورڅه چي د جامعي خرابي هم منځ ته راتللای سي . د بي بي خديجې (رض) حال اواحوال که په دقيقه توګه ترمطالعه لا ندي و نيول سي حتماً دا ثابته کيږي چي ښځي ته بايد په سپکه سترګه ونه کتل سي اونه هم بايد په څلورو ديوالونو کي محدوده سي. د ښځي حقوق د تعليم او تربيې په لاره کي د نارينه سره بل الکل مساوي دی . نن ورځ چي د جهان علمي نظريات ورځ په ورځ مخ په لوړه ځي د ښځي د پوهي ضرورت هم لازمي عنصر ګڼل کيږي دا چي څه رنګه ؟ په کوم حالت ؟ اوچيري بايد د ښځو د پاره مدرسي جوړي سي ؟ څنګه بايد درس ووايي ؟ کوم شرائط بايد ورته مساعد سي دا هغه خبري دي چي د وخت حاکمان بايد پرې خبري وکړي اوغوروکړي . ځکه د تعليم او تربيې د پاره سهوليات د حکومت او واکمن له خوا بايد سرته و رسيږي نه د يوه محکوم او بې تد بيره اشخاصو له خوا . ځکه د علم اومعرفت چشمې کيدای سي په خاورو او ختو کي لاهو سي .موږ د دې بحث لمړنۍ برخه په همدې څو کلمو کښي لنډولای سود ډيري سرګردانۍ اوياهم دخبرو اوريدلو څخه په لنډو الفاظو کي مهم ټکي تشريح کوو.

لنډيز

اول : د بي بي حوا ( رض عنها) موجوديت اوپيداکيده د رب العزت په واسطه د حضرت آدم عليه السلام په درخواست سره دا معني لري بيله ښځي د انسان ژوند مکمل نه دی.

اول خو بيله ښځي څخه د بشرد نسل ډيريدل امکان نلري ( که چيري پروردګارعالم و نه غواړي ) .

دوهم دا چي د افهام او تفهيم لاره بل کل بنديږي.

دريم انسان خپل ژوند په خوشحالۍ سره نسي انجام ته رسولای .

اوآخره جمله خولا داده چي انکارنسو ترې کولای ، هغه مخلوق چي رب العزت پخپله خدايي سره خلق کړي او هغه د نارينه د پاره بهتروګرځوي آيا دا د کفراو ناشکرۍ ځای نه دئ چي انسان هغه د نظره څخه ليري وګرځوي او ياهم هغې ته په سپکه سترګه وګوري ؟

دوهم : دقابيل اوهابيل جنګ او نزاع د خپلي خور د نکاح کولو په خاطر آيا د ښځي د موجوديت په لحاظ اود ضرورت د رفع کولو په منظورنه وو ، که چيري ښځه د نظره لويدلې اوبې اهميته انسان په توګه وليدل سي نو د قابيل او هابيل جنګ په څه وو؟

دريم:د حضرت موسي عليه السلام د پيدايښت او د هغه دژوندي ساتلو باعث اوکارمند د مځکي پرمخ د ده مور نه وه ؟ که چيري د رب العزت نظرد ښځي څخه ليري وای اول به يې نه پيداکول او دوهم به يې هغي ته تد بيرونه نه ښوول اودځمکي پرمخ به يې ديوه باقدرته انسان په حيث نه معرفي کول . په همدې تائيد بايد و وايوهمدا ښځه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چي په تدبير الاهي سره يې موسي عليه السلام ته نجات ورکړ اوبيايې دخپل دښمن په کور کښې د دښمن ښځې پخپل تدبير او اسرارسره وروزی. اوس نو موږ دلته د دې دوو ښځو اهميت او موجوديت څنګه د نظره وباسو اوکه يې په ساده نظر سره وګورو آيا د پرور د ګار عالم د بندګانو سپکاوی نه دئ ؟

څلورم : د حضرت عيسي عليه السلام د مور بي بي مريمي پيدايښت د هغي روزنه او بيا هغي ته دومره لوی مقام ورکول چي پروردګارعالم په قرآن عظيم الشان کي د هغې صفت تشريح کړی د نظره څخه ايستلاي سو ؟ بيا هم که پرور دګار عالم خپله مهرباني د بي بي مريمي څخه کمه کړې وای نو حضرت عيسي عليه السلام به څنګه پيداکيدي . که څه هم د هرکُن فَيَکُنٌ سره هرهغه څه چي د پروردګار اراده وي سرته رسيږي خو تدبير يې د پروردګار سره مخ کي سوی وي موږ دلته د مځکي پرمخ د يوه انسان د موجوديت اودهغه د احترام

په باره کي بحث کوونه د خالق لعالمين په خدايي کي د بي بي مريمي نقش اود هغي احترام په وړکتوب کي حضرت عيسي عليه السلام پخپله ژبه بيان کاوه . آيا موږ ته پکارده چي د خالق العلمين په مخلو قاتو باندي د پرمختګ ، ترقۍ او تعليمي زده کړو د ليارو چارو په برابرولوکښي سترګي پټی کړو ؟

پنځم : د حضرت سليمان عليه السلام د پاخه تدبير په مقابل کي د بي بي بلقيسي جواب ستاسي په نظر يوساده کارښکاري ؟ داسي نه ده موږ و ويل ټولو تکړه پهلوانانو او وزيرانو ورته و ويل چي موږ ځو د هغه سره جنګ کوو ولي د دې د عقل فراست باعث سو چي خپل ملك اوقوم د بدبختۍ څخه وساتي ځکه جنګ هيڅکله آبادي منځ ته نه راوړي اونه هم په جنګ کي حلوا تقسيم کيږي . نه دا چي خپل ملك يي وساته بلکه د خپل ملك په وسعت کي يې هم ځلانده رول ولوباوه . په هغه جنګ کي چي باخت حتمي وي د برئ د پاره لاره د هرانسان په ذهن کي نقش نسي لوبولاي.

شپږم : د حضرت محمد (ص) تربعثت مخکي تجارت ، صنعت او سياسي مسائيل په ډيره چټکۍ سره مخ ته تلل اوخلګ په پوره پوهې او دا نايي سمبال وه . حضرت بي بي خديجه چي د يوه شته من اوبډايې کورنۍ څخه پخپل عقل اوکمال رسيدلي ښځه وه دخپل عقل اومنطق په درلودلو سره يې حضرت محمد د خپل تجارت نماينده وټاکه که څه هم دی په دې وخت کي په پيغمبرۍ نه وومبعوث سوی ولي د امين په نوم سره مشهور وو او بيا يې د زمان په تيريدلو سره د خپل محرم په حيث انتخاب کړ او وروسته يې بيا د آخر زمان پيغمبر په حيث قبول کړ . که چيري په هغې کي عقل ، بينايي او فراست نه وای دآينده د پاره خپله دنيا او دولت غورځول بيا ميړه کول او بيا دهغه سره ټول زحمتونه ګالل او پرهغه ايمان راوړل د يوه عادي انسان په حقله مثبت ثابت کيدای سي ؟ واضح خبره ده چي نه . دا ډول تدبيرونه د يوه سالم او هوښيار انسان په واسطه طرح کيدای سي ، هر څوك په هر زمان کښي د داسي تدبيرونو پوره لياقت نلري ځکه موږ پروفيسوران ، عالمان او ډيردانشمندان ليدلي دي او وينو يې چي د عقل دکموالي له امله درست او ثابت پلانونه نلري بلکه د يوه ماشوم په ډول عمل اجراٌ کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرصورت د حضرت بي بي خديجې ( رض عنها ) علميت او باتدبيره حركات ددې خبري تائيد دي چي ښځه او نر دمكمل عقل خاوندان دي كه چيري د خپل عقل څخه كار واخلي دنيا ګل اوګلزاركيداى سي بيله دې څګخه د ژوند هره لحظه لكه په جهنم كي تيريداى سي او په ورځ د آخرت كي به شرمساره اوسي موږ ته دا پكارده چي اول خپل ځان و پيژنو ځود پروردګار عالم مخلوقاتو ته په سپكه ستركه و نه ګورو بلكه د هربنده حق اوحقوق د قرآن عظيم الشان د ارشاداتو سره هرچاته و بخښل سي خصوصاً زموږ عالمه طبقه بايد د قرآن د احكامو په اورولو سره خپله دنده ترسره كړي نه داچي د خپل نفسي خواهشاتو په پوره او سرته رسولو كښي هاند وكړي . د رب العزت خوشحالي او رضايت دهغه دمخلوقاتو دپاره خدمت كول دي نه داچي په اين وآن سره د هغو په سپكاوي كي خپله مفكوره په نورو باندي ترزيق كړو ، په هرهغه څه چي نه پوهيږو بايد چپ اوسو اوكه چيري پوهيږو بايد په مكمله توګه دحق دويلو څخه انكارونه كړو دا به زموږ د دنيااو آخرت په ګټه وي اوكه نه نو همداسي ژوند هغه ژوند دي چي...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ((دوهمه برخه))

د ښځي اشتراك د ژوندانه په ليارو چاروکي :

په تير بحث کي دا ثابته سوه ښځه هم د يوه مکمل انسان په توګه لکه نارينه چي خپل ځانته د تبارز حق ورکوي دا هم کولای سي عين لقب خپل ځانته غوره کړي په هغه صورت کښي چي د پروردګارعالم د ارشاداتوسره سم عمل او رفتار وکړي ځکه د رب العزت د خواڅخه داسي ارشادات نسته چي ښځه دکار کولوکولو څخه منع کړي . کوم ارشادات چي د پرور دګارعالم له خواد جامعي د نظم اوانضباط په غرض باندي وضع سوي دي هغه په دې خاطر چي دمحيط او ژوندانه چوکاټ په نه خرابولو کي بايد نراو ښځه په ګډه کاروکړي نه دا چي دګناه پيتې د يوه انسان له خوا په بل انسان باندي ولويږي دجامعي د پاك ساتلو په غرض علماْ اودانشمندانو ته ضرورت احساس کيږي دا طبقه که نروي اوکه ښځه خپل نقش په ډيره ښه توګه اجراْ کولای سي . په هغه صورت کي چي عالمه طبقه نه وي د صالح عمل مرتکبين هيڅکله نه ډيريږي په نتيجه کي د جامعي خرابوالي حتمي دئ . داچي رب العالمين مهربانه او تر وريدونو هم را نژدې دئ د جامعې پرمختګ او تعالي کيدل په علم سره مربوط بولي اود بي سوادی سخت مخالف دئ .

موږ ددې خپلي جملي د ثبوت دپاره ويلای سو د متعددو پيغمبرانو انتخابول اوهغه په مځکه کي دهدايت او بشارت او هم د اخلاقو د فاسد کيدو څخه د بندګانو د مخ نيوي په غرض له يوې خوا اوهغوئ په الاهي کتابونو سره پوهول د بل طرفه څخه دا خبره د شك او ترديد د لاري څخه را باسي اود تحقق کرسی ته د رسيدو د پاره د قرآن عظيم الشان څخه دامبارك آيت را اخلو.

ادْعُ ﺇِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ ﺃَحْسَنُ (125) النحل

ترجمه : بلنه کوه خلقوته د پروردګار واحکاموته په محکمه خبرو سره او وعظ کوه په نيکو خبرو سره اومناقشه کوه د دوی سره ( کفاروسره) په هغه صورت کي چي هغه احسن وي ( جنګ اوجدال پکښې نه وي ) .

ددې آيت مبارك اصلي مقصد دادئ چي ټول مسلمانان بايد په علم او پوهي سره خپل ځان سمبال کړي ځکه د ناپوهۍ اوبي علمۍ نتيجه خرابي ده او رب العزت خپل بندګان د خرابۍ څخه ژغوري . که څه هم د قرآني ارشاداتو په رڼا کي رب العزت د بندګانو د پاره مشکلات حل اود سعادت هراړخيزه رهنمودونه تحرير او د رسول اکرم (ص) په واسطه يې بيان او واضح کړيدي خوبياهم د انسانانو قاصر کيدل اوغلط فهمي ده چي د پخوانيو اديانو په بيا ژوندي کيدلو کي څه ناڅه رول لوبوي . موږ د دې خبري د تائيد د پاره څو مثالونه لرو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول :انسان خپل دین بد لولاي سي خو خپل عادت تر پیړیو پیړیو پوري نسي هیرولای . داځکه چي انسان اجتماعي ژوند دیته اړباسي چي ځان داجتماع سره څه ناڅه مناسب کړي . مثلاً : که موږ اروپایي ټولني ته یا امریکاته ولاړسو هلته به و وینو چي مسلمانان موجود دي خپل طاعت اوعبادت کوي خود اسلامي شریعت لا ندي ستر عورت نلري . بل عکس که افغانستان ته راسو و به ګورو چي دلته هم مسلمانان دي خپل طاعت او عبادت کوي ولي اکثره زنانه په مکمله توګه سترعورت لري . موږ دلته اکثریت یاد کړیدي نه اقلیت . په دې دواړو حالا تو کي موږ دکفر یاکمي بلي مترادفي کلمې اطلا ق نسو کولای ځکه د محیط شرایط په انسان باندي تأ ثیرلر ي .

دوهم : په بعضي خلقو کښي د پخواني کفري ادیانو بعضی فورمولونه ثبت دي مثلاً : د شپې د پاکۍ د پاره جاروب مه کوی خپل دسترخوان د شپې مه ټکوی ، د لاسونواو پښو نوکان مو یوځای مه اخلئ اونور... داسي مثالونه ډیرلیدل کیږي . حال دا چي رب العزت دپاکۍ د پاره متعدد ارشادات لري لکه په دې مبارك آیتونوکي :

وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ(108)التوبه

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ(4) المدثر

قَدْ دِفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا(9) الشمس

همدغه راز هغه وخت چي د عربوقوم او چاپیریال خپلي لوڼي ژوندۍ ښخولی اویاپې هم دهغو د پیدایښت په باره کي بد فالۍ اوبد شګومۍ لیدلې رب العزت دخپل الاهي رحمت په نزول سره همدا ننی قرآن کریم لا زم اود بشرد پاره ګڼور و باله او ټولو خلګو ته یې علم ور زده کړ او خلګ یې په دې پوه کړه مخلوقات د پروردګار په هر شکل او صورت چي وي دیوه قدراو قیمت لیاقت لري نباید د خپل زوراو قدرت څخه بده استفاده وسي .

د قرآن عظیم الشان نزول اودهغه تشریح و یوه شخص ته ضرورت درلود ، دا لوی او سنګین بار پاك پروردګار د حضرت محمد (ص) په غاړه وا چاوه دا په داسي حالت کښي چي د حرا ٔ دغره په یوه غار کي د خپل خدای په عبادت لګیاوو دیوي فرشتې په واسطه چي عبارت د جبرائیل علیه السلام څخه وو د حق د ویلو په لیاره وګمارل سو . په دې خاطر چي محمد (ص) ناخوان (امي ) وو د پروردګارعالم له خوا څخه دعلم په زده کولو ما ٔ مورسو ځکه د حق ویل په بې علمۍ او بیسوادۍ سره نه ترسره کیږي بایدانسان د پوره عقل اوتعقل خاوند وي  څو وکولاي سي دالله پاك کلام وخلقوته تشریح او ورسوي . قرآن عظیم الشان هم په همدې خاطرچي خلګ پوه سي اودالاهي علم څخه ټوله ګټه واخلي په 23 کلونو کي په تدریج او ټوټه ټوټه آیاتونو سره ومځکي ته نازل سو او د أُمي محمد څخه یې د علم مخزن جوړکړ. دا هم زموږ د پاره د عبرت درس دئ چي د خپل توان او قدرت په اندازه د قرآن عظیم الشان د ارشاداتو څخه ګټه وا خلو اوهغه د خپل ژوند سرمشق وګرځوو . که چیري و وایو چي انپړیو ، یابیسواده یو قرآن مونه دئ ویلی نه مودئ ترجمه کړی اونه مودئ زده کړي ځان نسو خلاصولای ځکه د دنیا د معاملا تو، تجارت ، دکانداریئ ، معلمۍ ، خرید اوفروش او بلاخره د آدم خان درخانۍ قصه زده کولای سو د بي بي سي رادیو او ریدلای سو خو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن شریف نسو زده کولای ؟ یایې نه سو اوریدلای ؟ یایې نسو ترجمه کولای ؟ دا به زموږ په صداقت او ریښتین ولی باندي پوره او مطلق د بطلان خط راکاږي .

هغه لمړنی مبارك آيت چي پرحضرت محمد (ص) باندي نازل سو د همدغه ځای نه علم او پوهه پرموږ باندي هم فرض سوه دهغه برکت له مخي چي پروردگارعالم خپل خاص پیغمبر حضرت محمد (ص) ته دعلم اوپوهي لاري چاري دقرآن عظیم الشان په لارښوونه ور زده کړي موږ دهغو څگه دگل پشان دانه دانه رااخلو اوخپلو گرانو ویونکو ته یې داسي وړاندي کوو . دحضرت آدم علیه السلام منځ ته راتلل دمځکي پرمخ کم بې بنیاده او بې اساسه کار نه وو، د پروردگار د حکمتونوڅخه یوهم د انسان پیدایښت په ډیرتدبیر او مکمل صورت سره د یوه چلنج په شکل منځ ته راغلی دی . ددې خبري د تا ئید د پاره د قرآن عظیم الشان دالبقره سوره ته مراجعه کوو ،وینو چي پرور دگارعالم د انسان د پیدایښت نه مخکي دملا ئکو سره دا موضوع څنگه مطرح کړیده.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ(30) البقره

ترجمه : هغه زمان چي و ویل پروردگارستا ملا ئکو لره زه گرځونکي یم ( پیداکونکي یم ) په مځکه کي د یوه خلیفه نوپه جواب کي ملا ئکو ورته وویل آیاگرځوي ته هغه څوك چي فساد به کوي او تویوي به ویني ، موږ چي یو تسبیح وایو تا لره حمد وایو تالره پاکي ده تالره اوموږ په پاکي یادونه کوو تالره ، و ویل پرور دگار زه پوهیږم په هغه څه چي تاسي نه پوهیږی .

وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ(31) البقره

ترجمه : زده یې کړه وآدم علیه السلام ته نومونه د ټولوشیانو وروسته یې وړاندي کړل هغه نومونه په ملا ئکو باندي وې ویل خبرکړي تاسي ما په نومونو ددې شیانو که چیري یی تاسي رشتیني.

قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ(32) البقره

ترجمه : وې ویل ملا ئکو پاکي دي وي تالره نسته موږ د پاره علم مگر هغه څه چي تارا ښودلي دي په تحقیق سره ته چي یې خاوند دعلم او حکمت یې . یو بل آیت د همدې سوري

قَالَ يَاآدَمُ أَنْبِئْهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ فَلَمَّا أَنْبَأَهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ(33) البقره

ترجمه : وویل پروردگاراې آدمه خبرکړه دوی په نومونو د دې شیانو پس هرکله چي خبر یي کړل دوی په نو مونو د هغه شیانو نو و ویل پروردگار آیا ما تاسوته نه وو ویلي چي زه پوهیږم په غیب د آسمانونو اومځکي او پوهیږم په هغه څه چي ښکاره یې کوئ تاسي او په هغه شي چي په پټه یې کوئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرو څخه داسې معلوميږي د ملا ئيکوخوښه نه وه چې انسان پيدا سي د عزازيل هم خوښه نه وه چې انسان پيداسي که څه هم د هغه وخت د معتبرو بندگانو څخه وو. ولي الله پاك چې کمه اراده درلوده هغه يې انجام ته ورسول او حضرت آدم عليه السلام يې خلق کړ بيايې ملا ئکو ته و ويل چې ورسئ ورته سجده وکړئ ټولو ورته سجده وکړه مگرعزازيل ( شيطان ) د سجدې څخه انکار وکړ . رب العزت ورڅخه سوال وکړ . ولي دي سجده ونه کړه هغه وويل (( زه د اور پاك څگخه يم اوانسان دختې مرداري نه )) پروردگارعالم هغه د خپل رحمت څخه ليري کړ او د ابد د پاره يې د لعنت زنهار ور په غاړه کړ . دا ځکه چې د پروردگارعالم د امر څخه يې سرغړونه وکړه او انسان ته يې احترام ونه کړ بې خبره ددې څه چې پروردگارعالم وانسان ته کرامت او عالي شخصيت ورکړيدئ . په دوهمه مرحله کي چې رب العزت د تحفي په توگه بي بي حوا( رض عنها) آدم عليه السلام ته ورکړه اود آدم عليه السلام روح يې آرام کړ نويې دواړو ته و ويل په جنت کي و اوسيږئ مگرتاسي هوښيار واوسی د دې معيني درختي څخه خوراك ونه کړي . که چيري مو خوراك وکړ نو تاسي به د ظالمانو د جملې څخه حساب کړم . د دوی دواړو خوراك د معيني درختي څخه د دې باعث سوه چې دواړه د جنت څخه ووزي . د همدې ځای نه اشتراکي ژوند جوړ سو .

نتيجه : که پورته بيان په غورسره مطالعه کړو نتيجه دا کيږي.

د پروردگارد اوامرو څخه سرغړونه د بندگانو د پاره دذلت او بد بختۍ وسيله پيداکيږي او په تکرار سره کيدای سي د خدای

درحمت څخه ووزي ، که څه هم دالله پاك د خاصو بندگانو څخه وي لکه عزازيل ( شيطان ) چې د هميش د پاره وشړلی سو ولي آدم عليه السلام او بي بي حوا ( رض عنها ) د توبې او زارۍ نه وروسته وبخښل سول .

الله پاك پخپله حضرت آدم عليه السلام ته علم ور زده کړ او بيايې د مځکي د مخ د انسانانو رهنما وگرځاوه په دې معني ، ترنن پوري اود دي نه وروسته کم علمي اوساينسي اختراعات چې منځ ته راځي آدم عليه السلام د هغه رهنما دی . موږ چې ځان د الله پاك بندگان او د رسول الله (ص) امت بولو آيا دا د شرم ځای نه دی دالله پاك مخلوق د ژوندانه د لاري چارو څخه و باسو او د علم دروازې ورته په مخ و تړو . حال داچې قرآن عظيم الشان د علم د زده کړې د پاره متعدد ارشادات لري اودا واضح کوي چې علم او عمل صالح دا يمان سره تړلی شرط دی . ځکه هيڅ ايمان بيله علمه او پوهي څخه وجود نلري . هرهغه څوك که نر وي اوياښځه چې د پروردگار اوامر نه مني په قرآن شريف کي ورته داسي اخطار ورکول کيږي .

وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ (الفتح سوره 6 آيت)

ترجمه : پروردگارعالم پخپل عذاب اومشقت کي اچوي هرهغه څوك چې منافقان ( نران ) اومنافقاني ( ښځي ) وي همدارنگه مشرکان نارينه او مشرکاني ښځي په دې خاطرچې گمان کوي په خدای پاك باندي گمان دبد.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﺇِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَنْ نَكَثَ فَإِنَّمَا يَنْكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا)10(

ترجمه : هغه کسان چي بيعت کوي د تاسره ( يارسول الله ) په تحقيق بيعت کوي د الله سره اود الله لاس د هغو د لاس د پاسه دی. هغه څوك چي ماتوي داعهد په تحقيق سره ماتول کوي د خپل ځان د پاره ، او هغه کسان چي وفاکوي په خپل عهد باندي ( وعده دميثاق ) ډير ژرډی چي وربه کړي پروردګارد دواړو جهانو اجر د نيکيو ډيرلوی .

داهم زموږ د پاره دثبوت دليل دئ چي نارينه او ښځي د ژوندانه په چاروکي د ښه والي او بد والي دنده په غاړه لري او دواړه يوشان د پروردګارعالم د رحمت اوقهر وړګرځيدلای سي دموسي عليه السلام مورته لارښوونه او تدبيرالله پاك ونه ښاوه او دا لارښوونه پخپله د موسي عليه السلام مورترسره نه کړه ،

آيادا د ژوند په چاروکي برخه اخيستل نه وه ؟

د فرعون ښځي پخپل مکرر تا ٌکيد سره دموسي عليه السلام ساتنه ونه کړه ؟

د بي بي مريمي د پاکۍ ثبوتوالي په ماشوم حضرت عيسي سره د ژوندانه تکاليف اود خلقو سره سوال او جواب د بي بي مريمي د روزمره کارونو څخه نه شميرل کيږي ؟

د حضرت اسماعيل عليه السلام د مور يوازي پرې ښوول په يوه وچ ډاګ کي د حضرت ابراهيم عليه السلام په واسطه د حضرت شعيب عليه السلام د لوڼو چوپاني کول په دښت او صحرا ٌ کي نعوذو باالله د دې پيغمبرانو بې غيرتي وه ؟

نه داسي نه ده .بلکه په هرکارکښي ددنيا د پروردګار رازونه پټ دي . حضرت ابراهيم عليه السلام چي د حضرت اسماعيل عليه السلام مور د الله پاك په فرمان سره په هغه وچه دښته کي يوازي پرې ښووله په دې خاطرچي هلته د اسماعيل عليه السلام د پښو په وا سطه د اوبو چشمه ( آب ضم ضم ) پيداسي رب العزت پخپل ذات کي د بنده په کموالي او سرټيټ کيدو کښي اراده نلري بلکه بندګان پخپل ازمايښت کي اچوي ګوري څوك د دې ازمايښت څخه کامیابه وزي . دلته د اسماعيل عليه السلام دمورتدبير نه وو چي د اسماعيل په پيداکيدو سره يې خپل درد او غم هيرکړ حضرت اسماعيل يې په خيمه کي يوازي  پرې ښووی اود يوي ليونۍ پشان يې په اوبو پسې منډې وهلي . پروردګارعالم ترموراو پلارهم مهربانه دی . د خپلو خاصو بندګانو په واسطه خپل خاص کارونه کوي . ځکه خوانسان په ا شتراکي ژوندکي تربيه سويدئ اوموږ اشتراکي ژوند ضروري او لازمي عنصر بولو ځکه بيله اشتراکي ژونده خير او شر منځ ته نسي راتللای . د دې کارونو په ترسره کولو کي که چيري انسانان دعدل او انصاف څخه کار واخلي او ياهم رب العزت د خپل خالق په توګه و پيژني خيراو شر دواړه د هغه په قدرت کي وګوري اوخپل ځان د يوه صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومسلم انسان مثال جوړکړي نورب العزت هم هغه ستايي اود هغه د پاره د نيکيو اجرونه ورکوي اوهغه ته د متقي لقب ورکوي لکه :

يَادِيُّهَا النَّاسُ دِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَدُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا دِنَّ دَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ دَتْقَاكُمْ دِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ(13) الحجرات

ترجمه:اې انسانانوتاسي مو پيداکړي ياست د يوه نر او يوې ښځې څخه اوګرځولي موياست تاسي ډلي ډلي په دې خاطرچي يو د بله سره و پيژنۍ( کم يوستاسي نيك عمل کوي اوايمان راوړي ) ځکه په حقيقت کښي د عزت خاوند ستاسي په نزد دالله هغه څوك دئ چي پرهيزګاره ( متقي وي ) په تحقيق سره

الله پاك عالم دی اوخبردی ( په هرهغه څه چي بندګان يې کوي) يعني نه تورپه سپين اونه هم سپين په تورنه عربي په اعجمي اونه اعجمي په عربي بر تر ي لري بيله تقوي څخه او بله خو لا داده چي په ورځ کي د قيامت به هم دا خبره د تصديق وړ وي لکه په دې دنياکي چي په اصل اونصب سره څوك نه بخښل کيږي په ورځ کي د قيامت به هم داسي وي لکه:

فَدِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا دَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ(101) المؤمنون

ترجمه: هغه زمان چي د دوهم ځل د پاره په شپيلۍ کي پوکل وسي اوخلګ را پورته سي نو نه به وي د دوی په منځ کي اصل و نصب او نه به هم د دوی څخه په دې باره کي پوښتنه وسي . دا هم زموږ بل دليل دئ چي يوازي د نر د پاره مشخص وينا اواساس نسته په مخکني آيت کي پروردګارعالم و فرمايل چي ما تاسي د يوه نر او يوې ښځي څخه پيداکړي ياست دې خبري موږ ته دا را و ښوول چي د نارينه په څنګ کي ښځه ضروري ده بيله هغې نه تکثير د اجتماع ممکن نه دی . يو بل ښه مثال لرو. بياځو دحضرت موسي عليه السلام دورته . هغه وخت چي موسي عليه السلام دمصرڅخه وتښتيدی اود مدين ښهرته ورسيدی نو وې ليدل د څاه په اوبو باندي ډيرخلګ راټول سوي دي اوبه راکاږي خوهغه خوا دوې جنکۍ مخکي د خپلي رمې سره ليري د حيا او شرم نه نژدې نه راځي اوهلته انتظار دي چي دا خلګ تيت سي بيا به اوبه د څاه څخه را وکاږي او خپلو پسونو ته به يې ورکړي . موسي عليه السلام چي دا حالت وليدی نو جذبه يې را پورته سوه او راغی هغه څاه ته تيګه يې ليري کړه اود دې دوو جنکيو پسونه يې اوبه کړه جنکيو چي دا حالت وليدی ولاړې اوخپل پلارته يې داقصه بيان کړه ( يوسړی وو او زموږ سره يې داسي کمك وکړ ) ددې جنکيو پلار حضرت شعيب عليه السلام وو هغه موسي را وغوښت او ... دالقصص سوره 20 سيپاره ) زموږ هدف دلته دادئ د حضرت شعيب عليه السلام دوې انجوني هم لکه د نارينه پشان چوپاني کوي ، آيا د يوه پيغمبر په صفت نعوذو بالله د دومره عقل او فراست خاوند نه وو چي خپلي ځواني لوڼي د چوپانۍ څخه را وباسي او هغه په کورکي کښينوي داسي نه ده . آيازموږ دګران هيواد په جنوبي سيمو کي سپيڅلي افغانان ، کوچيان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودهيواد په نورو ولاياتو كي لكه هزارگان او نوراقوام چي د خپلو نارينه ووسره اوږه په اوږه په كښت اوكرونده كي كاركوي څه فكركوی ؟

پكارده نارينه لكه دموسي عليه السلام دهري ښځي سره د ژوندانه په لارو چاروكي كمك وكړي نه دا چي هغه دكار او كسبه څخه وساتي او ياهم ورته په ژوندانه كښي په درنه سترگه

ونه گوري . هرڅوك چي علم او پوهه لري بايد و نوروته يې ورزده كړي اود خداى ( ج ) په لاره كي يې د خدمت مصدر و گرځوي . ځكه په بي علمۍ سره هيڅ هم نه جوړيږي ( نه د جامعي پرمختگ او نه هم د الله پاك پيژندنه په كامله توگه منځ ته راتللای سي ) .

ددې خبري د تا ئيد د پاره موږ په تكرار تكرارسره د حضرت جبرائيل عليه السلام ليږنه و حضرت محمد (ص) ته او ياهم د الله پاك خبري راساً د حضرت موسي عليه السلام سره ټوله په دې خاطروه چي پروردگارعالم د خپل استاذي په واسطه خپل ټول بندگان دعلم اوادب څخه مالامال كړي اوهغوي ته د پوهي زمينه مساعده كړي . وقت په وقت يې الاهي كتابونه د خپلو پيغمبرانو په واسطه د مځكي پرمخ د فسادونو د ليري كولو په خاطر تشريح اوتوضيح كړيدي . ددې ارشاداتو مقصدد بيعلمۍ ليري كول د اتحاد او اتفاق را وستل وو نه په دې معني چي تجملي شكل ولري او ياهم هغه د پيسو په مقابل كي و پلوري د انسانانو ترمنځ جگړې او بيځايه بحثونه ټول د بې علمۍ نتيجه ده . اوياكه علم لري اوعمل نه په كوي هغه حيوان ته پاته كيږي چي په قرآن عظيم الشان كي الله پاك د خره پنوم يادكړيدي ( داّيت مبارك ترجمه ده ) .

هرهغه څوك چي علم لري اوعمل نه په كوي په شكل دهغه خره دي چي كتابونه پرې باروي . كه څوك دعلم په بركت برخورداره  وي اود حقيقت څراغ يې ليدلی وي هيڅ كله جاراوجنجال نه خلق كوي مگرهغه بې دانشه دانشمندان چي دطوطي اومينا پشان زده كړه لري . په همدې خاطر الله پاك وخپلو بندگانو ته دالارښوونه كوي.

تاسي به د پروردگارعالم د دثبوت د پاره په بې علمۍ سره بحثونه او جگړې نه كوی . يعني اول به علم زده كوی بيا به دخلقو رهنمايي په غاړه اخلی . دا نو دامعني نلري چي گواكي داكاردنارينه په غاړه ايښودل سوئ دئ بلكه دهرانسان كه نروي اوكه ښځه د علم د بخش په لاره كي سهم اخيستلای سي په دې مبارك اّيت كي وگوری .

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ ىَوْ ىُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاىً طَيِّبَىً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ ىَجْرَهُمْ بِىَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ(97) النحل

ترجمه : هرهغه څوك چي عمل صالح ولري كه نروي ياښځه په شرط ددې چي مسلمان وي دهغود پاره ژوند دی پاك اومنزه . اودوی ته به پروردگارعالم وركړي اجرد نيكو د هغه څه په خاطرچي دوی كړي وه . (په دنياكي ) په انتهايي معني كي بايد وويل سي عمل صالح دهرهغه كس په نصيب او برخه كښي وي چي علم اوايمان ولري . دا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارانسان ودیته اړ باسي چي د ژوندانه په چاروکي د عدل او انصاف څخه کارواخلي . که چیري دعلم برکت نه وي نودعدل اوانصاف په لاره پوهیدل څه امکان لري؟

که نروي اوکه ښځه چي دایمان خاوند نه وي اویاهم په ژوندانه کي دخلقو سره درب العزت داحکامو د ترسرته رسولو دنده په غاړ ه و نلري د صالح عمل درلودونکی نسي جوړیدلای.

د رب العزت بل ارشاد دي.

الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ 26) النور

ترجمه: ناپاك (خبیث) نارینه د ناپاکو (خبیثو) ښځو د پاره، پاکان خلگ د پاکو ښځو د پاره پاکي ښځي د پاکو خلگو د پاره .

دازموږ د پاره بل دلیل دی چي د ژوندانه په چاروکي د نراوښځي اشتراك هم د تحسین اوهم دغضب لیاقت لري . ځکه په ژوند کي د نراوښځي یوځای کیدل په هغه صورت کي امکان لري اویاهم اجتماعي ژوند هغه وخت ښه تیریږي چي دواړه ( نراوښځه ) د یوه خاصیت اوعادت درلودونکي وي بیله دینه د دې دواړو یوځای کیدل محال ښکاري د دې خبري د تائید د پاره موږ یو مکمل مبارك آیت دقرآن عظیم الشان څخه رااخلوهغه دادی .

ِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ ۚأَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَۃً وَأَجْرًا عَظِيمًا(35) الاحزاب

ترجمه:په تحقیق سره مسلم نارینه اومسلمي ښځي مؤ منین نارینه اومؤ مني ښځي روژه نیونکي نارینه اوروژه نیونکي ښځي اطاعت کونکي نارینه اواطاعت کونکي ښځي صادق نارینه اوصادقي ښځي صبرکونکي نارینه اوصبرکونکي ښځي عاجزي کونکي نارینه اوعاجزي کونکي ښځي روژ ه نیونکي نارینه اوروژه نیونکي ښځي حفاظت کونکي نارینه چي ساتونکي دخپل محرمو ځایونو وي اوحفاظت کونکي ښځي چي ساتونکي دخپل محرمو ځایونو وي ذکرکونکي نارینه چي ډیر دالله نوم یادوي اوذاکریني ښځي تیارکړیدي الله پاك ددوی د پاره مغفرت اواجرډیر لوی ( جنت ) . فکرنه کوم چي تردې به بل داسي مکمل آیت د نراوښځي د پاره موجود وي چي په صراحت سره یود بله بیل اود خپل عمل په درلودلو سره بیان سي . داخبره موږ د دې د پاره وکړه چي ګویا ویونکي ته اوسوال کونکي ته همدا یو مبارك آیت بس دی چي په تفصیل سره شرح سوي دی . اوس به څنګه د سوال ځای پیداسي چي نارینه خپل ځان معتبره او با ارزښته و بولي اوښځي ته په حقارت اویاهم سپك نظر وګوري . د رب العزت په دربارکي دواړه په یوه قطارکي دریدلي دي اود ژوندانه په چاروکي ددواړو اشتراك ضروري دی ، که دواړه یایو د دوی د ژوندانه په چارو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اشتراك ونه کړي بيا به هيځکله ښه او بد منځ ته رانسي . خودعمل په اجرا ٔ کي دواړه پخپل نامه سره ياديږي . اوس که بيا هم گناه په ښځه واچول سي نو وگورى چي پروردگارعالم د ښځي نه مخکي سړي په دې امرکړيدي چي خپل فرجونه وساتې لکه :

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ ۮبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ ۮزْكَى لَهُمْ (30) النحل

ترجمه: اې محمده ووايه مؤ منانوته (نارينه وو ته) کښته واچوى خپلي سترگي د نامحرم په ليدو کي او وساتې خپل فرجونه .

يعني خپلي سترگي کښته واچوی او پردی ښځو ته مه گورې ځکه د زنا اولنی حرکت په بده سره کتل دي ونامحرمي ښځي ته . موږ و ويل نارينه او ښځي دواړه دکارکولوحق لري نوکه چيري يود بله په بده سره وکتل سي نوحتماً د جامعې فاسد کيدل اود پروردگارعالم ناخوښي منځ ته راځي . د دې نقص د ليري کولو د پاره بايد نراو ښځه په دواړو اقدامات وکړي .

ولي ترټولو دمخه ددولت اراکين بايد داسي زمينه مساعده کړي چي نراوښځه هريو پخپلو حالتونو سره دکارکولو مسؤ ليتونه ولري نه د فيشن اوسيل کولو دفترونه .

زما په عقيده د يوه مسلمان د پاره دا يو آيت مبارك بس دی ، خوموږ دلته د زړه د قرارد پاره څومره آياتونه ذکرکړل نور به هم ورته ذکرکړو څو د ويونکي زړه تسلي سي چي زموږ دين ، زموږ لاره او زموږ کردار په حقه دی . هرهغه څوك چي زموږ په دين کښي نخري جوړوي اوياهم بهتان وايي موږ په هروقت کښي کولای سو په ډيره ميړانه اوکامل جواب سره د هغه ترديد وکړو اودانيمگړتيا دده د خپل ځان او فکرثبات وگرځوو .

د ژوندانه د اشتراك اوکارونو په اجراکولوکي د نراو ښځي ونډه موږ دلته په دې مبارك آيت کښي بيا هم څرگندولای سو که چيري نارينه او ښځي د بدو افعالو برخه وي نو الله پاك څه ښه فرمان لري

لِيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا (73) الاحزاب

ترجمه: پروردگارپه عذاب کي اچوي منافقين نارينه اومنافقي ښځي مشرك نارينه اومشرکي ښځي اوتوبه قبلوي الله پاك د مومنانو نارينه وو او مومنانو ښځودغه رنگه پروردگارعالم بخښونکي اونهايت مهربانه دی .

همدغه راز د الاحزاب سوره څخه دامبارك آيت

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ ۮِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۮمْرًا ۮنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ ۮمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا(36) الاحزاب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : نه ښايي يوه مسلمان نارينه اويوې مسلماني ښځې ته هغه زمان چي امروكړي الله پاك او رسول دده ( حضرت محمد ص ) په يوه كار باندي چي هغه خيروي ستاسي د پاره په هغه كاركي سرپيچي . هغه څوك چي سرپيچي وكړي داالله اود رسول دده د اوامرو څخه په تحقيق سره گمراه سوي دي په ښكاره گمراهۍ سره .

كه نراوښځه ايمان په خداى (ج) ونه لري اود پروردگارعالم مخلوق ته خدمت و نه كړي اوصالح عمل ونه لري الله پاك ورته داسي فرمايي.

وَمَا ذٍمْوَالُكُمْ وَلَا ذٍوْلَادُكُمْ بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَى ذٍلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ( دالسباسورۍ 37 آيت )

ترجمه : نه مال ستاسي اونه هم اموال ستاسي كولاى سي چي تاسي خداى ته نژدې كړي بلكه فقط ايمان په الله (ج) اوعمل

صالح سره كيداى سي دربِ العزت رضاْ حاصله كړي .

دا مبارك آيت خاص دمسلمانانو د پاره نه دى ويل سوى بلكه د ټول عالم د پاره يوشان ارشاد دى . داخبره مو بايد په ياد وي چي دايمان راوړلو نه بغيردهيڅ كس صالح عمل ( خيراتونه ، زكاتونه ،كمك كول او نورښايسته اعمال ) په ورځ دآخرت او پروردگارعالم په درباركي د قبليدو قابليت نلري مگرهغه كسان چي ايمان په الله (ج) او رسول مقبول (ص) ولري . ځني خلگ دا گمان كوي چي خپلولي د پيغمبرانو او اولياوو كولاى سي ددوى د شفاعت زمينه برابره كړي . حال داچي داخبره صحيح نه ده . كه څوك په الله پاك او پيغمبر(ص) باندي عقيده اوايمان ونه لري كه هرڅومره دارايي اودولت دخداى په لاره كي مصرف كړي دا قرابت اومتاع بخښنه به ورته هيڅ گټه ونه رسوي . كه څه هم په نصب د رسول اكرم (ص) باندي منسوب وي موږ كوښښ وكړ څو دخپلو ويونكو د پاره هرهغه څه راغونډ كړو چي د هغو په واسطه وكړاى سو د زړه تسلي حاصله كړي د هغه سوال د جواب په خاطر چي په ژوند كښي آيا يوازي نارينه دكاراوعلم د حاصلولو حق لري اوكه نراوښځه دواړه .

دايمان په درلودلوسره عمل صالح حتمي اوضروري كاردى ځكه دعمل صالح نه بغيرايمان هيڅ معني نلري بلكه د وقت ضائع كيدل دي كه چيري دواړه سره يوځاى سي نو كيداى سي د رب العزت رضا او رغبت حاصل كړي داهغه وخت تحقق مومي چي نر اوښځه دواړه د ژوندانه په چاروكي بوخت سي ، اوكه يو ددوى څخه ترك دنيا وي نو دا به محال وي چي د هغه څخه دي د نيكۍ اعمال ظاهرسي ، حتماً داسي اشخاص هغه كسان دي چي د جامعي په اوږو بار او يو دروند پيټى دى . داسي خلگ نه د خداي پسند او نه هم دمخلوق ، ځكه نه دوى علم حاصل كولاى سي اونه هم د خدمت مصدرگرځي.

مزد هغه وخت خوندور ثابت كيږي چي انسان زحمت وكاږي 0خپلي خولې توى كړي ربړ اومشقت ته خپله غاړه كښيږدي نو دخپل مزد قدر هم محسوس كولاى سي . رب العزت هم په دې خاطرچي مسلمانان په دې نړۍ كي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرتکالیف . لوړي تندي . اودمشقت ډکي شپې ورځې تیري کړي په آخرت کي ورته عوض ورکوي ځکه خوددوی د اتمنان د پاره فرمایي :

وَالْآخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ(35)الزخرف

ترجمه : داّخرت دعزت ژوند په نزد د پروردګاردهغه چاد پاره دی چي په دې دنیا کي متقي او با ایمانه مسلمان وي .

نه د هغه کس د پاره چي مسلمان نه وي ولي پرهیز ګاره وي . د ژوندانه په چاروکښي داجراْ کولو په غرض د نارینه او ښځي فعالیت لا زمي شرط دی که څه هم دااجرائات په صالح ډول وي اویا هم دګناه په ډول ځکه درب العزت په وړاندي ددې دواړو مخلوقاتو ترمنځ کوم ترپیر نسته دواړه دالله پاك بندګان دي اوهریود دې دواړو مخلوقاتو دخپل عمل جواب ویونکي دي . داسي نه چي د نارینه جواب به ښځه وایي اویاهم د ښځي جواب په نر وایي . هیڅ شخص د بل په اعمالو سره نه خلاصیږي او نه هم ماْ خوذه کیږي ځکه دا خبره رب العزت په تکرار سره په قرآن شریف کي کړیده موږ تاسي ته عین نقل و رساوه اودا مو هم اضافه کړه که څوك ددې مخلوقاتو ترمنځ بیله تقوي څخه ترجیح راولي حتماً اشتباه ده اوغلط فهمي .

زموږ داسي ګمان دی چي دیوه کامل ( عاقل ، بالغ ، آزاد ) انسان د پاره دومره دلیلونه بس دي چي الله پاك په قرآن عظیم الشان کي د بندګانو د تفاهم د پاره را لیږلي دي اوموږ د هغو څخه د یوڅوګلانوپه ټولولو کښي خپل ویونکو ته دا ګلدسته تقدیم اوتحفه کوو. ګورو په هرمبارك آیت کي د نر او ښځي ذکرسته که چیري ښځه د ژوندانه د فعالیتونوڅخه لیري ساتل سوي وای نو بیادهغې ذکرکیدل په ښو او بدو کارونو کي څه لا زمیت درلو دی ؟ دا فقط زموږانسانانو کوتاه فکري ده چي د خپل ځان څخه په شعر او شاعري سره مطلبونه حل کوو غافل د هغه څخه چي زموږ خدای ( ج) اود هغه رسول ( ص) څه وایي . هیڅ داسي حدیث نسته چي هغه د قرآن شریف د مبارکو آیتونو خلاف وي . او که چیري خلګو جوړ کړي وي نو موږ مسلمانان هغه نه منو. دا ځکه چي کفري او دهري علماْ وو تر ټولو نه ډیر زموږ د دین او ایمان په ضعیف والي سره لاسونه ورکړي اوداکوښښ کوي چي خلګ د اسلام د دین څخه بیخبره وساتي . دوی پوهیږي د پروردګارعالم ویناوي او قرآن حق دی اوپه دې قرآن کي پروردګارعالم وخپلو خاصو بندګانو ( مسلمانانو ته ) دا وعده ورکړیده چي په آخرت کي به ورته ډیر بي شماره نعمتونه وي لکه دا مبارك آیت :

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَى نُورُهُمْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ(12) الحدید

ترجمه : هغه ورځ به وینې مومن نارینه اومومني ښځي په وړاندي چي منډې به وهي نورددوی اوپه راسته لاس کي ددوی به زیری وي په دغه ورځ کي دجنت چي ترلا ندي به بهیږي اوبه دوی به په دې جنت کي دایم وي او دایو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی فضل اوکامیابي ده دلته ددې مبارك آّيت يوه معني زموږ اصلي هدف يعني د نراوښځي دواړو ذکر او کارکول ، عبادت کول اوهمدغه راز درب العزت واطاعت ته د دواړو دريدل او پخپله هريو ددوی فاعل کيدل مراد دی او د بله طرفه څخه دا يو برتري د مسلمانانو ده  په ورځ داّخرت کي چي کافران ( هغه څوك چي په قراّن عظيم الشان باندي ايمان نلري اوحضرت رسول اکرم (ص) داّخري پيغمبر په حيث نه مني ) ددې گټي څخه مستفيد نه دي . دوی دخپل لجوجيت او بې اعتنايي له امله غواړي د خلقو ذهنونه خراب کړي ، ساده لوح مسلمانان وغولوي اودگوتو په سر ورته کشمير جوړ کړي په اّخره نتيجه کي دا ثابته سوه چي بغيرله کاره انسان نه خپل رزق پيداکولاي سي اونه هم وجامعې ته د خدمت مصدرگرځيدلای سي ،څه اندازه ودې ته چي موږ د هغه څخه د ښواويا هم بدو افعالو اندازه گيري وکړو .

هرهغه څوك چي د ژوندانه دکارونو څخه ليري اومفت خوره تنبل و روزل سي نو هغه به د خپل خدای (ج) رضائيت څنگه حاصل کړي لکه:

د وفالا في دي بس کړه خودغرضه * * * دخالق سره دي څه کړه چي مخلوق سره بې وکړي.

که چيري دا نارينه او ښځي پخپلوکورونو کښي واوسي اوياهم ځانونه د پروردگارعالم د خدمت څخه گوښه کړي اوياهم د ژوندانه دندي لکه خريد او فروش توليد او تکثيرد زراعت په غاړه وانه خلي نو ښه عمل به کله پيداسي په کورکي خو بيله هغه هم هرڅوك تقريباً په صالح عمل پوري اتکاْ لري ځکه نه د چا سره په تماس کي وي او نه هم د ژوندانه د ضرورياتو د پوره  کولو د پاره د خلگو څخه بيع اوشراْ کوي، نو د دې مبارکو اّيتو نومعني خو فقط ډيرلږ هدف ته چي عبارت د صالح عمل او ياهم بد عمل دي رسيږي اصلاً خبره داده هغه څوك چي کامل ايمان لري په خدای اود هغه په قوانينو هيڅکله د بند گانو په حق کي تجاوز نه کوي اونه هم د بندگانو ترمنځ توپير بيله تقوي څخه راولي .

بيع وشراْ ، غم او ښادي ، مرگ او ژوند، جوړي اوناجوړي د انسانانو د ژوندانه بيخ او نه شليدونکی جز دی په داسي گډ قانون کي د هرانسان وظيفه داده چي خپل حد اوحدود و پيژني اوباصلاحيته افراد بايد د جامعي د خرابوالي مخه ونيسي نه دا چي د پردي او بيگانه ملکونو څخه رسم او رواجونو ته ترجيح ورکړي اودهغو په رواجولو کي مخ کښ وي .

دادحکومت او باکفايته علماوو فرض عين دئ چي د قراّن په مطابق اود رسول الله (ص) د ارشاداتو څخه په ژوندانه کي جوړي سوي قاعدې را واخلي اود هغو تطبيق ته اولينه درجه ورکړي  که نه نوهمداسي کاراوهمداسي عمل دغيراسلامي هيوا دونو د رقم څخه بعيد نه ښکاري . په داسي جامعه کي څوك حق نلري په اسلام باندي اعتراض وکړي اوياهم هغه ته گوته ونيسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

قاعده اوقانون:

ددې ټولومبارکوآّیتونود تشریح او توضیح څخه دا ثابته کیږي چي د خیر او شرعامل ، د نیك او بدواعمالو فاعل انسان دئ . اوانسان عبارت د نراو ښځي څخه دی (مذکراومؤنث). دا څنګه کیدای سي چي انسان په بشري جامعه کي دکارکولو اشتراك ونلري خو د شر (بدعمل) فاعل وګرځي او یا هم په جامعه کي دکارکولو حق و نلري خو د صالح عمل فاعل و ګرځي موږ تردې ځایه پوري د قرآّن عظیم الشان مبارك آّیتونه تر پوره تشریح او توضیح لا ندي د ویونکي د پاره ولیکل او دا موثابته کړه چي ښځه اود هغې موجود دیت د قرآّن پا ك د ارشاداتو سره سم د جامعې نه هیریدونکی مهم جز دی . او بیا مو په دوهمه برخه کي د ښځي اشتراك اوکارکولوزمینه پخپل استعداد سره سم تشریح او ثابته کړه او دا موهم پوره قناعت حاصل سوچي قرآّن پاك دکارکولو اوعلم زده کولو مخالف نه دئ . د اجتماعي ژوند په څنګ کي یي بعضي قاعدې اومقررات وضع کړیدي چي د هغو په نه منلو کي ورته د جزا حد ټاکل سویدي ، څو په جامعه کي د اغتشاش ، سرکښی او خرابوالي مخه ونیول سي بیا موږ وکتل چي ددې قرآّني آّیتونو تطبیق سویدی اوکه نه ، دا مو هم واضح کړه په مثالونو سره چي د پیغمبرانو اهل بیت اودعوامو اهل بیت هر یوه خپله دنده پخپل وخت کي ترسره کړیده اوکه نه ؟ مثلاً:

که موږ د خپل وطن افغانستان جنوبي او شرقي حصه ترغورلا ندي ونیساواو یا هم ولاړ سوهلته پخپله لیدلی حال و وینو دا به راته واضح سي چي اسلام یوازي د ښهرد خلګو د پاره نه دی راغلي بلکه د عربو او عجمو د پاره یو ډول اوبیله کوم امتیازه څخه انسانان و وحدانیت ته رابولي . په همدې خاطر موږ دومره ډیرتاْ کید کوو چي د نراو ښځي ترمنځ کوم توپیر د رب العز ت د خدمت په لاره کي او یاهم د علم د زده کړي په لاره کي نسته . دلته صرف د انسان کوتاه فکري ده چي ځانته برتري ورکوي .

موږ مخ کي د خپل ګران وطن ( افغانستان ) د شرقي او جنوبي حصو څخه نوم واخیستئ هلته ښځه د نارینه پشان کارکوي قلبه ( یوې ) کوي دځنګلو څخه لرګي ماتوي اوکورته یې راوړي اوحتي داسي قبیلې هم سته چي فقط نارینه دکور څارنه کوي خوراك اوڅښاك کوي اونور پاتي کارونه ټوله د ښځو په غاړه دي .

بله ډله زموږ د پاکي خاوري کوچیان دي . داهغه کسان دي چي په ژمي کي یوځای اوپه دوبي کی بل ځای کډه کوی د دوی ژوند همیشه سیاردی دخپلو مواشیو ( پسونو او وزو) تابعداران دي ، په دې معني هرهغه چیري چي ددوی پسونوته شنې شنې دښتي اودخوراك څړ ځایونه موجود وي او زمینه د خوراك ددې پسونو د پاره موجوده وي کډه کوي اوهلته خپلي کږدئ دروي . د دوی ښځي لکه نارینه د ژوند په ټولو برخو کي ونډه اخلي خپل ملي لباس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواسلامي عزت نه هيروي . دا ددوی د ژوند کاراو بار دی د دوی په خوښه د دوی جامعه جوړه اوهرڅوك ( نراوښځه ) پخپل وس اوقدرت باندي کارکوي پخپل ټاټوبي کي پخلې د ميړو لوشل اود اوبو راوړل د ښځو دنده ده . خپل ديني مضامين هم وايي اوملا ئيان هم لري اوداسلام دمقدس دين پيروانان دي چي حنفي (پاك) مذهب اود حضرت ابراهيم عليه السلام په دود او دستور باندي ولاړدي .

صرف په ښارونو کي د ژوند طريقه اودکارکولو لاري چاري دکلي يا بانډو د قوانينو سره توپير لري . څکه جامعه بيله اوهم بيلي غوښتني لري . په دې معني چي انجوني اوهلکان بايد مکتب ته ولاړ سي ، کله چي مکتب ختم کړي بيا فاکلتي ته ځي او بلاخره د تحصيل د ختم نه وروسته په دفترونو او مدرسوکي معلمان اويا هم په شعباتو کي ماموران جوړيږي .

دکارکولوله لحاظه دغه د ښهرکلچراودکلي او بانډو کلچرکوم توپير نلري څکه هرڅوك پخپل استعداد اود ذهن په تکامل سره دخپل ضرورت وړ مشکلات حل کوي زمينه د ښه کارکولو او بدعمل کولو دواړوته مساعده ده څکه چي دهيڅ نارينه په سر ښځه اودهيڅ ښځی په سرنارينه نه مقررکيږي . دواړه پخپل ذات کي دخپل قوم ، کور ، اوکلي نمايندگان دي که ښه کوي هم اوکه بدکوي هم قرآن عظيم الشان دټولو دپاره يوکتاب دي يوه معني لري او يو رنگه معلومات پکښي حل دي .

داسي نه ده چي کوچيان او باده نشينانو د پاره يوقانون وي اود ښارد خلگو د پاره بل قانون .

په قرآن عظيم الشام کي دجامعي د بهبود او فلاح په خاطر د ټولو مؤمنانو ( نراوښځود پاره) يورنگه داسي ارشاد لري .

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ ۮَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ۮِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ۮِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ ۮَوْ آبَائِهِنَّ ۮَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ ۮَوْ ۮَبْنَائِهِنَّ ۮَوْ ۮَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ ۮَوْ ۮِخْوَانِهِنَّ ۮَوْ بَنِي ۮِخْوَانِهِنَّ ۮَوْ بَنِي ۮَخَوَاتِهِنَّ ۮَوْ نِسَائِهِنَّ ۮَوْ مَا مَلَكَتْ ۮَيْمَانُهُنَّ ۮَوْ التَّابِعِينَ غَيْرِ ۮُولِي الْۮِرْبَۃِ مِنْ الرِّجَالِ ۮَوْ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِۮَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا ۮِلَى اللَّهِ جَمِيعًا ۮَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ(31) النور

ترجمه: ووايه اې محمده (ص) ايماندارو ښځوته چي پټې دي کړي ( له نامحرمو سړو څخه ) سترگي خپلي او ښه ټينگ دي وساتي فرجونه ( دسترځايونه ) خپل اونه دي ښکاره کوي زينت ( ښايست ) خپل مگرهغه چي ښکاره کيږي ( مخونه اولاسونه ) او وادي چوي ټکری ( پوړنی) خپل په گريوانونو( ټټريي ښکاره نسي ) خپلو اونه دي ښکاره کوي د ښايست ځايونه خپل وهيڅ چاته مگر د پاره د ميړنو خپلو يا پلرونو خپلو د ميړنو خپلو ته يا زامنوته يازامنو د ميړنو خپلو ته يا ورونوخپلو ته يازامنو د ورونوخپلو ته يازامنو د خويندو خپلو ته ياښځوته ياهغه چاته چي مالك سويدی ښي لاسونه ددوی ياهغه تابعانوته چي نه وي خاوندان دحاجت ښځوته د سړيونه ( ايزك ) يا هغوهلكانوته چي نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبردوی په اسرارد ښځواو نه دي وهي دا ښځي پښې خپلي چي معلومي کړي شي هغه څه چي دوی يي پټوي له زينت ( ګاڼي ) خپلي . دغه رنګه توبه وباسۍ تاسي والله (ج) ته ټوله اې مومنانود پاره د دې چي تاسي ښيګڼه او خلاصۍ وموميۍ په دارينوکي .

تفسير : د دې مشرح اوکاملواّياتونو څخه ثابته کيږي چي کفين (ورغوي ) په الي ماظهرکښې داخل نه دي ځکه چي ډير دنيوي اوديني ضروريات فرائضو ادااينه دوی ودې ته اړ باسي چي ورڅخه کار واخلي لکه لاسونه که د هغوی د پټيدو حکم ورکړل سي نو ښځوته به په کار و بارکي ډير سخت ربړ او تکاليف ور وړاندي سي . برسيره پردې فقهاوو هم پرهمدغو باندي قياس کړيدئ لکه چي دغه اعضاْ مثتثني سول نو د هغو تعلقات لکه ګتميۍ ، نکريزي او رانجه هم په استثناکي ومنل سي . ليکن واضح دي وي چي په الي ماظهرمنهاسره ښځوته عندالضرورت د هغواعضاوو په اظهارکښې اجازه ورکړې سويده نامحرمو سړيو ته له سره اجازه نسته چي دوی دي خامخوا دغه ښځوته وګوري يا له هغو سره دي سترګي په سترګي سي ياد دوی داعضاوو سيل دي وکړي .

تنبه : ددې مبارك آّيت څخه معني دا نه ده چي و ويل سي او هير سي . دلته زموږ د ژوندانه اصلي هدف ، اصلي قانون او داصل سرنوشت ټاکل دي په دې معني هرهغه وخت چي يوه ښځه وغواړي علم زده کړي اويا هم د کارد پاره ياهم د وظايفو د اجراْ کولو د پاره د باندي ووزي بايد دا په نظر کي ونيسي چي په څنګه ايجاباتو او څنګه طريقه سره کولای سي خپل د مطلب حل وکړي . ځکه د اسلام د طريقه لاره او واجبات قوانين ) د نراو ښځي د پاره داسي وضع سويدي چي د يهود ، نصارا او صائبينو په خلا ف دي .

دادرې ټولني هميش داانتظارکوي چي دمسلمانانو ضعيفوالی بد بختي اوبې ايمانی ژر تر ژره رامنځ ته سي څو د الحاد اوکفري ټولني د خوشحالتيا اوآّراموالی خيال اوخوب په حقيقت تبديل سي . ځکه خو رب العزت د خپلو خاصو پيروانانو ( مسلمانانو ) د پوهی آّرامی او اطمنان په غرض مکرراّياتونه تشريح او نازل کړيدي څو د مشکلا تو په وخت کي هغوی بې طاقته او بې حو صلې نسي . که چيري د لويو غمونو په ګرداب کي ولويږي نو د صبر او حوصله څخه دي کار واخلي چي په دې طريقه هم د خپل پروردګار رضائيت حاصلولای سي اوهم به خپل مراد ته ور سيږي . اوکه چيري دوړوکارونو سختی او ناحل کيدل رامنځ ته سي بايد د مشوري او نورو دوستانو ( مسلمانانو ) په رهنمايي اوکمك سره هغه حل کړي ، څو د دښمن زړه هيڅکله داميلان پيدانه کړي چي ګواکي د مسلمانانو د حالت د خرابوالي سيل بين سي. بايد يو مسلمانه ښځه اومسلمان نارينه د بهترينو اخلاقو په درلودلو سره لکه چي حضرت رسول مقبول (ص) اود هغه سرتيرو په اسلام مين يارانو دخپل اخلاق اومکمل ايمان په درلودلو دا پاك او منزه دين ترموږ پوري را ورساوه اوس پرموږ هم دا فرض ده چي دادين په کامله توګه ترآّينده نسلونو پوري پاك او بيله کوچنۍ سهوي اوغلط فهمۍ سره وساتو اوبيله کمي شخصي ادعاْ اوغوښتني څخه نورونسلونو ته ټکي په ټکي ورسوو اودا سلسله د ځنځير په شان يود بله تقديم کړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بيځايه فعاليتونه اودخود خواهۍ اغراض كوم چي دغربي ممالكو له خوا څخه صادريږي په غوراوعميقه توګه ترڅيړني لا ندي ونيسو ځكه هيڅ دښمن د بل د ښمن د پاره كمك نه كوي مګر دهغه په شكست كښي موږ پخپله افغاني جامعه كښي په واضح اوڅرګنده توګه وينو چي په اسلام مين نارينه اوښځي دخپل دين ، مذهب ، طريقې او روا جونو په درلو دلو سره هميشه دكفري او الحادي جامعې د سترګو خارګر ځيدلي دي .

په دې ډول چي هم د باندي دكورونو ( په جامعه كي دژوند د لارو چارو د سنبالولو د پاره ) كاركوي اوهم د ننه په كورونو كي د خپل ټاټوبي د ښايست زمينه پخپله غاړه لري .

ترنن ورځي پوری دښمنانو ډير ي هلي ځلي وكړي چي زموږ په جامعه كي د نفاق درز واچوي د بيځايه اوغير انساني اعمالو په واسطه دمسلمانانو ذهنونه داسي كړكيچن كړي چي ګواكي دحقيقت اخبار لولي، خو د ډيري خوشحالۍ ځاى دى چي زموږ په وطن مين په الاهي دين اوايمان باندي قايم مقام نر او ښځي د داسي توطئو دمخ نيوي د پاره تدابير او لا زمي طريقې اختياروي . موږ ددې مثال دګپاره د روس د وحشي نظام غوښتونكي ( كمونستان ) اود هغوي مستقيم تجاوزات زموږ په ګران هيواد افغانستان كښي د يادولو وړ بولو ، ځكه دافغاني مقاومت له لاسه د سقوط او بربادۍ سره مخامخ سول او داسي دعبرت درس يې واخيست لكه چي زموږ پلرونو د انګريزو امپراطوري ته وركړ او دا خيالي امپراطوري يې ورته سقوط كړه. اوس چي بعضي خود غرضه او ياهم د غرب پلورل سوي اجيران دا ادعا كوي چي ګواكي په افغانستان كي د ښځو حقوق موجود نه دي دا په دې معني نه ده چي دوی دافغاني ټولنی سپكاوی كوي بلكه ددوی هدف د اسلام د مقدس دين ضعيفوالۍ او ياهم ددې مقدس الاهي كامل قانون نيمګړتياوي چي ددوی دذهن زاينده دي وجهان ( وخپل كفري هيوادونو ته ) د خپل ابتكار او زحمتونو نتيجه وګڼي او وښيي . حال داچي لمر په دوو ګتو نه پټ كيږي او ياهم د شب پرك په ښنو باندي كه آسمان را ولويږي نه تكيه كيږي . موږ په ډيره ميړانه او ټينګ عزم سره دا پټيلي ده هغه ضعيف النفس نارينه او ښځي چي فقط پخپل ژوند كي د خپلي خوشحالۍ نه بغير بل څه نه غواړي زړونه او فكرونه ددې څخه خالي كوو چي ګواكي كولای سي د بلبل اوطوطي په شان ځوخبري چي د ايمان اوعقيدي څرګندوي هم نه دي په خلګو وقبولولاى سي.

موږ كامل دين ، قانون ، رواج اودسپلين لرو هيڅكله افغانانو خپل كلچرپربيګانګانو باندي نه دى خرڅ كړی بلكه دهغه محافظت يې خپله وجداني او ايماني وظيفه بللې ده .

په يوې لنډې مقايسي سره موږ كولاى سو دغيراسلامي او اسلامي جامعې ترمنځ توپير د يوه باوجدانه او بې غرضه انسان و ذهن ته تقديم كړو او بيا و وايو چي قضاوت او عدالت د هغه په اختياردی . كومه يوه ډله د حقوقو درلودونكې ده اسلامي اوكه غير اسلامي ؟

))ا و ل((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي معاشره کي هرڅه وخت چي ماشوم پيداسي دخپلي مور په غيږ کي د پوره مهربانۍ ، عفت او ناز په درلودلو سره د يوې خوا د مور د اصلي شيدو څخه په ګټه اخيستلو سره د بلي خوا لوئيږي اووديږي ترڅنګ د پلار ، ورور ، خوراو نورو دوستانو په پوره پاملرني سره روزل کيږي او د محبت يوه مکمله ټوټه ګرځي .ماشوم پوهيږ ي چي زما دوستان کوم دي(

*مقايسه*

په غير اسلامي ( کفري ) ټولنه کي ماشوم د پيداکيدو سره سره په شيرخوارګاهانو کي داخليږي د نرسانواو بيګانګانو تر تربيه لا ندي روزل کيږي اکثره د مورد شيدو څخه محروم وي . د پلار، ورور،خوراو نورواقرباوو د محبت څخه کمبود .

))دوهم((

دماشوم په لوی کيدو سره په اسلا مي جامعه کي د مور، پلارورور، خوراو نورو نژدې دوستانو لکه نيکه او اناله خوا د انسانيت او اسلاميت درس او دحيوانيت څخه ليري درسونه ورښوول کيږي په دې معني چي خپل د شرم ځايونه بايد پټ کړي ، لوڅ ونه ګرځي ، د خور، ورور، پلار اومور څومره حقوق دي ورښوول کيږي اودهغه په جامعه کي ثبت اواخلاق يې په کامله توګه ترڅېرني لا ندي نيول کيږي څو ونسي کړه لای د بيګانګانو منفي رواجونه دهغه د ژوند حرکات په بله لاره و هڅوي که چيري دا درسونه په تنبهي ډول هم وي .

*مقايسه*

په غيراسلامي جامعه کي ماشومان دلوی کيدو سره سم د شيرخوارګاه څخه وکودکستان ته راجع کيږي چي هلته د ډول ډول کورنيود رواجونو اوعقيدوماشومانو سره يوځای لوئيږي . اوعلاوه پردې دمعلم له خوا هغه تدابير چي دحکومت د واکمنو له خوا مقررسويدي ورته ښوول کيږي هغوی ( ماشومان ) د شرم ، عفت اوعزت د ځايونو د پروا نه ساتلو په بنا باندي داسي تربيه کيږي چي ګواکي يو زيروح د مجبوريت پراساس باندي تر تربيي لا ندي راځي . هغوی ته د معاشري د خرابوالي ( فاحشه توب )درسونه په ګوته کيږي د مور،خو ر، ورور او پلار حقوق پخپلو قوانينو کي نلري بلکه داسي مفکوره او لاري ورته ښوول کيږي چي هغه دآزادي فضاْ لوی کيدل دي.

)انسان بايد ترقيد او مقرراتو لا ندي لوی نسي( . هغه د وحدانيت درسونه چي الله پاك په قرآن عظيم الشان کي د ماشومانو د تربيي د پاره مورته د حضرت محمد (ص) په واسطه تشريح کړيدي اود جامعي څخه يې د شراو فساد دليري کولو د پاره لکه زنا ، لواط شراب خوري او نورقبيح اعمال د قاعده او قانون په واسطه ښودلي څو دوړکوالي څخه په ذهن کي ثبت او ولويږي نه ښوول کيږي په دې معني : انسان دفطرت اوخپلي آزادۍ په چوکاټ کي بايد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و روزل سي هغه بايد سرزنش نسي اود هغه دمغز د نااراموالي سببونه كه څه هم د هغه داّينده د بد ژوند سرنوشت ښكاره كوي و نه ويل سي او يا هم فراهم نسي

))دريم((

په اسلامي ټولنه كي دماشوم تربيه اودهغه حركات دعمر تر معيني اندازې ( بلوغيت ) پوري دمور ، پلار، خور، ورور، نيكه اواناله خوا په پوره اوكامله توگه ترغورلا ندي نيول كيږي دا ځكه چي ماشوم دكامل عقل اومنطق په نه درلودلو سره كيداى سي د حقيقت څخه منحرف سي .

كله چي دكبريت ( بلوغ ) مرحلي ته ورسيږي نو د مورپلار خور ورور نيكه او انا مكمله څيړنه او لارښوونه ترډيري اندازې پوري ختميږي او زلميان د الا هي قوانينو په لارښووني سره تاْ ديب كيږي د ماشوم والي ددورې څخه ترلوى والي پوري مسجد اومكتب ته داخليږي اودكبريت په دوره كي ورته داسي ويل كيږي (( اوس دي واك اواختيارخپل دى ستانه رب العزت ستا دگناهونو سوال كوي اودگناهونو د ارتكاب په واسطه به درته سرزنش دركوي )) اود جامعي دروند پيټى چي عبارت دعزت نفس څخه دى د اولني شرط په حيث ورته په گوته كيږي كيداى سي دا قوانين د عمرپه 14يا15 كلنۍ كي وي . خوبايد په ياد وساتو چي دمځكي د جغرافيايي حالت په نيولو سره دديي عمرد اندازيي ډيروالي اوكموالي هيرنه كړو .

*مقايسه*

په غيراسلامي ټولنه كي خلگ په يوه ديموكراتيكه فضاْ كي د عزت نفس او شرم څخه ليري تربيه او تر18كلنۍ پوري د حكومت په ادارې پوري مربوط احكامو لا ندي روزل كيږي په خلاف د دې چي د يوه انسان او حيوان ترمنځ تربيه بايد په كومو حالا تو كښي او په كومو خواصو كښي تر مطالعي لا ندي ونيول سي ادامه لري . د ماشوم ميلان دغير انساني اخلاقو وخواته دهمدې دورې څخه شروع كيږي . د بلوغ ياد18 كلني دورې څخه وروسته خود مختاره او په كامله توگه د مور او پلار څخه جدا ژوند باندي اتكاْ لري.

))څلورم((

په اسلامي معاشره كي هغه وخت چي انسان و بلوغ يا سالم والي ته ورسيدى نو د جامعي د تكثير د پاره و نكاح ته ضرورت لري دا نكاح كه په شخصي رضا ئيت او يا هم په اجتماعي رضائيت باندي وي د قبول وړده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( که د مور پلار په خوښه وي اوکه پخپله دهلك يا انجلۍ ) نکاح انسان د نفسي خواهشاتو دغريضې څخه چي په نا جائيزصورت بايد انجام سي را باسي او خپل واك پخپل کور کښي ورته مصرف کوي او بيا بيا دا نکاح نه تجديده کيږي بلکه د مرگ ترساعته د ژوندانه د اړيکو يوځاى والئ دهمدې نکاح په واسطه دوامداره کيږي . او دا اړيکي نه شليدونکي دي احياناً که دکورنۍ يا جامعي مفسد کيدل را منځ ته سي نو په ډيرنرم او احسان سره طلاق واقع کيږي . لکه چي پروردگار عالم هم په دې باره کي داسي ارشاد لري.

اَلطَلَاقُ مَرَّتَانِ فَاِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ‌ِِ اَوْتَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانَ .228البقره

حقيقي طلاق تردرو مرحلو وروسته واقع کيږي هرمسلمان دپاره دا لا زمه ده چي د طلاق په وخت کي دعدل انصاف احسان او پوره قضاوت څخه کار واخلي .ددې بحث داخليدل دلته نسته په نوروکتابونوکي موږ په دې باره کي مفصل بيان اوتشريحات لرو .

نوټ : ددې خبري ياد بايد وساتو چي نکاح په هغه صورت کي تجديده کيږي چي خداى مه کړه ښځه د ميړه د اجازې نه بغير د داسي کار په اقدام لاس پوري کړي چي ميړه ورته د طلاق جواب ايښي وي . په دې باره کي د طلاق قاعده اوقانون بايد وويل سي.

*مقايسه*

په غيراسلامي جامعه کښي دا ضرورنه ده چي د ژوند ترآخره پوري ميړه اوماندينه يو دبله سره ژوند وکړي هميشه ترېوې معيني مودې پوري ژوندکوي او بياطلاق اخلي . که څه هم دا کار د ژوند په سلسله کي څو کرته تکرارسي د عيب او شرم خبره نه ده . اوکه په شهواني رضا سره د بيگانه و خواته ميلان هم ولري کومه گناه ياشرم نه دئ .

))پنځم((

په اسلامي جامعه کي نارينه مجبوره دي دکورکهول ټول ضروريات پوره کاندي ولي ښځي ته داحق ورکړي سويدي که پخپله خوښه کارنه کوي بايد په کورکي کښيني وخوري او وڅکي . د پلارميراث هم واخلي او د ميړه ترمرگ وروسته د ميړه په ميراث کي اتمه برخه هم خپل حق وگرځوي چي دا کار ورته اسلامي شريعت په حق ورکړيدى . او دايې هم اضافه حق دى چي د نکاح په وخت کي خپل حق مهر و خپل ځانته کښيږدي او هيڅ چاته يې ورنکړي .

*مقايسه*

په غيراسلامي جامعه کي دومرزياد امتيازات نسته د ښځي د پاره .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))شپږم((

په اسلامي جامعه کي د ښځي قدراوعزت په هرځومره کي چي دکبريت ( سپين سروالي ) سن ته رسيږي ډيريږي . دکورکهول چارواکي اواختيار، دپيسو خرڅ اوسپما ، وهلکانوته واده کول د مړي او ژوندي په حق کي ( خيرات ، ذکات ، صدقه ) اواکثره امتيازات د ښځي په اختيار کي راځي او د مرگ ترساعته هغې ته مور ، انا اوکه د دولت شته والی ډير سي او حج ته ولاړه سي د بي بي حاجي( اجانۍ ) په نوم سره ياديږي . په کور، کلي اوکوځه کي د قدر وړ شخصيت گرځي .

*مقايسه*

په غيراسلامي جامعه کي دا امتياز بل کل نه ليدل کيږي ځکه د اقتصاد موضوع او ياهم بزنس د ځوانۍ نه شروع اود خود خواهۍ غريضه د ماشوم والي نه په ميراث اخلي ځکه خو په يوه ميږه باندي اکتفاْ نه کوي اوژوند خوشحالي بولي نه عزت اولادونه هم پخپل کوراود والدينو په حقوق باندي نه تربيه کيږي بلکه د18 کلنۍ نه وروسته د يوې پرندي په شکل الووزي اوخپل ځانته جدا کور جوړوي اکثره دولت دسپين سرو اوسپين ږيرو د پاره دارالمساکين جوړوي ( دارالحفاظ ) لکه ماشومانو ته چي کودکستان جوړوي ددې خپلو زړو نارينه وو او ښځو د پاره هم داسي ځايونه جوړوي څو دا ناتوانه انسانان وکولاي سي هلته خپل آخرنی ژوند په يوازي والي کي تير کړي داځکه چي دا زاړه د جامعې څخه وزي څوك ورسره خبري نه کوي خصوصاً ځوانه طبقه . اوځني يې بيادشتو په صورت کي پخپلو کورونو کي اوسيږي د ځان ديوازي والي د پاره حيوانات ( سپی ، پشي ) او نورساتي او خپله مشغولا پرې کوي .

))اووم((

انسان چي يوجليل القدرمخلوق دی او پروردگار ورته دکرامت لرونکی لقب ورکړيدی سربيره پردې چي دانسان درجه يې په ټولوکائناتو باندي لوړه ساتلي ده په دې خاطر چي انسان په انسانيت اوحميده اخلاقو ښه ښکاريږي. حيوان چي د شعور درلودونکی ولي سالم عقل څخه کمبود دی د حيوانيت په چوکاټ کي د انسان دخدمت د پاره مقررسويدی . په همدې منظورپه اسلامي ټولنه کي فحشا چي د جامعي بد بختي او فساداچولو زمينه برابروي د نسل د خرابوالي او جدل باعث گرځي بده گڼل سويده اومرتکب يې د نکاح درلودلوپه صورت کي په رجم سره پوهولی دی او ددې لاري همنوعان يې سره دهمدغه رنگه افعالو هم خلاف دانسانيت اوجامعې گڼلي دي چي د اجراْ په صورت کي مرتکب ته سزا ورکول کيږي . څود انسان اوحيوان فرق وسي . ځکه حيوانات هم بيله شرم اوحيا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه په هرځای او هروخت کي خپل نفساني خواهشات پوره کوي او بيله دې نه چي د نورو دليدلو اوخنديدلو سبب ګرځي ځان خوشحاله ساتي .

*مقايسه*

غيراسلامي ټولنه ددي قوانينو څخه معاف ده د رضا په وخت کي هرچيري په هره تفريح ګاه ، پارك ، حوض آّب بازي ، سيندونو يا بحرونو په څنډو اوحتي په جاده کي د خپل نفسي اغراضو د ارضاع د پاره زمينه مساعده بولي بيله مسئوليته په ډيره بې پروايي کي خپل اعمال ښکاره کوي او زنانه هم په لوڅ اومکمله بې حيايي کي د ښهرونو اوکوڅو په شاوخوا کي ليدل کيږي چي دا کار د انسان اوانسانيت درجه د حيواناتو په مقابل کي راکښته کوي.

))اتم((

په اسلامي ټولنه کي دنارينه ياښځي مرګ په ډيره عذادارۍ سره ترسره کيږي اوحتي اضافي اخراجات هم په ځان منل کيږي خودخپل مړي بې قدري په ځان نه مني په دې معني چي څوك ونه وايي (( مړي يي بې قدره وګڼې ))
اوکله چي نارينه مړسي نوښځه د خپل ميړه داحترام په خاطرترڅلورومیا شتواولسو ورځو پوري نه دچا سره نکاح تړي اونه هم بهر ته د وتلو کوښښ کوي چي دې کارته عده ويل کيږي . داکار د جامعه دسالم والي د پاره دی ترڅو په دې څلورو مياشتواو لسو ورځوکي معلومه سي آّيا حامله داره سويده اوکه نه ؟ اودا کار په الاهي فرمان سره سويدی . په دې خاطرچي داولاد په سرجګړه رامنځ ته نسي .

*مقايسه *

غيراسلامي جامعه ددومره لوی اوعظيم کاردروندوالی پخپلو اوږو باندي نه اچوي او نه هم يود بل احترام ته په دې اندازه قايل دي ( ميړه اوماندينه )

))نهم((

.1علاوه پردې ټولوامتيازاتو نارينه د ښځي د نکاح تړلو په وخت کي په نامه د حق مهر قبلول کوي اولکه مخ کي چي وويل سول دامهرددې ښځي خپل شخصي مال دئ.

:2دميړه په مال کي اتمه حصه پس له مرګه دميړه حق لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3:ښځه حق لري په کورکي کښيني اودباندي کارونه کړي.

4:دکورخرڅ اوجامې تهيه کول دکورداسباب سره د ښځي حق نه دی .

5:دپلارپه ميراث کي دوې خويندي ديوه ورورحق لري .

*مقايسه*

حال داچي داسي اکثره امتيازات په غير اسلامي جامعه کي نه ليدل کيږي.

اوس به بيرته راوګرځو خپل اصلي هدف ته چي هغه دجامعي د ترتيب ، تنظيم اومقرراتومنل اوقبول سوي ايجابات دي .

قانون

لمړی هرهغه څوك چي دمسلمانانو په منځ کي بيځايه تبليغ کوي ، نفاق اچوي ،بهتان وايي اوياهم دخپل نفسي خواهشاتو په مبنا باندي ولاړ قوانين وضع کوي په دې خاطر چي دمسلمانانو نوم بد کړي پرور دګارعالم ورته داسي جزاټاکلي ده.

ﺇِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ ﺃَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آَمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ ﺃَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآَخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَﺃَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ(19)النور

ترجمه : هغه کسان چي خوښوي څو خپره سي د فاحشه توب او بدنامۍ خبره په حق د هغو کسانو کي چي ايمان يي راوړی دئ سته ددغو کسانو د پاره عذاب درد ناکه په دنياکي اوپه آخرت کي اوالله (ج) ښه عالم دئ اوتاسي نه پوهيږئ.

تفسير:هرهغه څوك چي خپل شخصي اغراض په کاراچوي اويا هم په غير شعوري توګه داسي نامناسب کارونه کوي چي هغه دمسلمانانو دجامعې عزت اوحقانيت ته صدمه رسوي دا دواړه حالتونه د پروردګارعالم د قهراوغصه سبب ګرځي هغوی ته په ژوندانه کي هم ذليل والی او په آخرت کي هم عذاب ورکوي . داځکه چي انسان بايد دانسانيت اوحقيقت تر شعارلا ندي  ژوند وکړي ( درواغ ، تهمت ، ملنډي ، بهتان ،غيبت اوپه سپکه سترګه کتل ) دانسان د پاره عالي شخصيت نه تعين کوي . داکارونه دهغه چا د خوا څخه عملي کيږي چي پخپل نفس باندي کامل قدرت نلري ( ضعيف النفس ) وي ځکه خوداسي انسانان دخپل شخصي ژوند د رفاه په عوض د بد بختۍ وسائل پخپله پيداکوي او بيا په هغه ګرداّب کي خپل ځان اچوي . موږدلته په ډاګه ويلاي سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرهغه څوك چي مسلمان نارينه اومسلماني ښځي اوياهم ځوان نارينه اوځواني ښځي اوياهم ماشومان هلكان اوماشوماني انجوني دعلم او پوهي له لياري منع كوي اودخلقو په ذهن كي داسي بيځايه افترا ګاني اچوي چي ګواكي د دې علم په واسطه جامعه خرابه كيداى سي او ياهم د نني ورځي علوم دكفر او الحاد باعث ګرځي ، دا په حقيقت كي هغه بدعتونه او بد ګمانونه دي چي پخپله دكومي غريضي او ياهم شخصي عناد كوتاه فكري ښكاره كوي په همدې سبب بيله مسئوليته څخه خپلي بيځايه نظريې وړاندي كوي او په دې عقيده نلري چي پروردګارعالم د ښو او بدو مالك دى جزا د نيكيو او سزا د بديو فقط د هغه په قدرت كي ده د مقرراتو د پاره يې مختلف قوانين وضع كړيدي دهغواجراآتو د په نظر كي نه نيولو سره كيداى سي د پروردګارعالم په قهراوغضب سره برخه واخلي .

په دې صورت كي به ملامتيا په شخص باندي ولويږي .

موږ دلته يوه لنډه كيسه دحضرت بي بي فاطمه الزهرا د ژوند څخه را نقلوو چي زموږ د مشهور اوپيژندل سوي روحاني شهيد الحاج عبدالرب اخوند زاده له خولي څخه دبي بي فاطمه الزهرا د زيږيدني په ياد بود يې د ده پخله جامع جومات كي وكړه او زموږ سره په نوار كي ثبت پرته ده ( پاتي ده ) را نقل كوو .

))وايي يوه ورځ حضرت حسن اوحضرت حسين رضي الله تعالي عنهم وږي اودخپل مور څخه يي د ډوډۍ سوال وكړ.

بي بي فاطمه الزهرا چي دحضرت محمد مصطفي (ص) لور او د حضرت علي كرم الله وجههُ منكوحه وه په داسي حالت كي ژوند كاوه چي اكثره به د لوږي ويده كيدل ، په ټوټو پوړنى اوكالي به يې په ځان كي وه څرنګه چي داد پيغمبر اهل بيت وه او پيغمبر بيله الله (ج) نه ددنيا طمع هيڅ نه لرله اونه يې هم د دنياسره علاقه درلودل او نه يې هم په كوركي څه درلودل چي داّينده غم په وخوري .ځكه خو بي بي هم دخپل پلار پشان خالي لاس اوخالي ديګدان ژوند كاوه . د ډوډۍ د پيداكيدلو د پاره د قريشو او نورو كفارو دروازوته و دريدل څو د غنمو د ميچن كولو او ياهم كالي پرې منځلو په عوض كي مزد واخلي اوخپل معاشي په وكړي .

په دې ورځوكي كفارو ټولو په ګډه تعهد كړى وو چي نور به ومسلمانانو ته دكاركولو زمينه نه مساعده كوو اودوى به پريږدو چي دلوږي مړه سي. خير پس له ډيرو ګرځيدو راګرځيدو ناكامه اومحرومه دكار د پيداكيدلو څخه كورته په تش لاس راغله. دلته دوه واړه ماشومان په ژړاسر دي او ډوډۍ غواړي . بي بي په دې ورځ ډيره دلتنګه سوه حضرت علي هم چيري دغزا د پاره تللى ووپه كوركي يوازي وه خوني ته ولاړه او دوه ركعته لمونځ يې وكړ او پروردګارته په ژړاسوه اوداسي وويل. (( اې پروردګاره ؛ نه كارسته نه ډوډۍ سته يادا ماشومان مړه كه ياپې درواخله )) . يعني مړه يې كه . دا ورځ ډيره استثنايي ورځ وه چي بي بي د ډيره درده څخه په ژړا او افسوس دا جمله ترخولې و ايسته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل كيږي چي د بي بي په ژړا سره عرش عظيم په لړزه راغئ اود پرور دگارعالم ټول كائنات متحيرسوه رب الجليل حضرت جبرائيل عليه السلام ته امر وكړ چي ورسه پيغمبر خبركړه .

جبرائيل عليه السلام وحضرت اخيرالزمان محمد هاشمي ته راكښته سو او ورته وې فرمايل (( يارسول الله عرش په لړزه راغلی دی كائنات ټوله متحير دي بي بي فاطمه الزهرا په ژړاده )) كله چي حضرت رسول مقبول په خبرسو په منډه منډه راغئ ځكه د خيراو بركت سمبول د مهرباني او دوستئ ايجاد كوونكی دمځكي پرمخ ګڼل سوی بشرد دې خبري په اوريدلو سره پوه سو چي كومه واقعه پيښه سويده راغئ وې ليدل چي دحسن اوحسين په مخ كي دطعام نه ډك دسترخوان پروت دی نو رسول مقبول دا حالت غير عادي وليدی پوښتنه يې وكړه داڅه دي اوڅه وينم ؟ بي بي فاطمه ورته وويل (( دادالله ج داد دی لكه په قرآن عظيم الشان كي چي پروردگارعالم فرمايي.

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَامَرْيَمُ ‌دَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ‌دِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ(37) العمران

ترجمه : هغه وخت چي داخل سو( دمريمي وكوټي ته ) زكريا عليه السلام نو پيدايې كړه ( وي ليدل ) دمريمي سره هغه رزق چي دوخت په حساب كي نه پيداكيدی وې ويل اې مريمي زه وينم تالره دا؟ هغې و ويل دا ټوله د جانبه د خدای تعالي (ج) څخه دي په تحقيق سره پروردگارعالم روزي وركوي هغه چاته چي خوښه يې سي بيله حسابه.

رسول الله (ص) وفرمايل : څه دي وكړه او ولي دي و ژړل ؟ بي بي فاطمه ورته قصه وكړه حضرت رسول مقبول چي د اخلاقو او مهربانيو يوه ټوټه وه پخپله وينا باندي داسي پوه كړه يافاطمه : نوربه دخپلو اولادونو دپاره نه ژاړې ته به زما دامت دبخښني د پاره ژاړې څو الله پاك هغوی را وبخښي اوگناهونه يې معاف كړي . صدق الله وصدق رسولهُ .

قربان ترداسي رسول.

مورږ دلته داقصه دافسانې ياوخت د ضائع كيدلو د پاره ونه كړه بلكه دامو په دې خاطر بيان كړه چي داسلام ارشاداتواوهغه حقيقت ته متوجه سو دغلط فهمئ اوبيهوده گويي څخه صرف نظر وكړوداسلام سترلارښود حضرت محمد (ص) خپله لور د نفسي خواهشاتو دارضاع څخه منع كړه ځكه نفسي خواهشات نسي كولای د حقيقت ځای ونيسي په خوله خبري دهرچا په وس اوقدرت كي سته خو د هغو عملي كول د يوه لايق او مدبره انسان له لاسه د پوره كيدو امكان لري . اول د بي بي د پاره دا درس ور زده كړي سو چي ترفردي غوښتني اجتماعي غوښتني بهتره دي . دوهم خاندان د محمد (ص) او خاندان د ايمان ( مسلمانان ) بايد هميش د اخلاقو صبر او حوصلې نمايندگان وي نه داچي د شيطان د رضا د حاصلو لو د پاره خپل نفسي خواهشات بهتره اومقدم وګڼي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایوه لنډه تحفه زموږ د ټولو مسلمانانو د پاره یو دعبرت درس د انسانیت اومحبت سرچشمه ګرځیدلای سي . دقصرونو او هوټلونو د تالارونو څخه د انسانیت اواسلامیت آوازونه دامعني لري لکه په باغ وحش کي دپنجرو ترشاه دحیواناتو نعرېاومستي اوس چي موږ ته ثابته سوه په مکرروآیاتونو ، دلیلونو اوقصو سره چي علم برتره ترعبادت دی نود بیاتازه کولو د پاردقرآن عظیم الشان لمړي سیپاره ته ځو اودا آیتونه چي فقط معني یې موږ لیکو را اخلو ځکه چي د ویونکي د پاره بهترین دلیل ګرځیدلای سي.

کله چي الله پاك وویل ملا ئکوته زه پیدا پیداکونکی یم په مځکه کي د یوه خلیفه( انسان ) نو ملا ئکوپه جواب کي ورته وفرمایل . پاکي دي وي تالره موږ ستا تسبیح وایو .ملا ئکو چي دانسان څخه مخکي پیریانان لیدلي وه هغوی په مځکه کي حکومت کاوه بدعملونه یې کول اویود بله یې وژنه کول نوځکه یې ورب العزت ته داسي وړاندیز وکړ چي ګواکي انسان به هم ویني تویوي اونافرماني به کوي  ولي رب العالمین ورته وفرمایل . په هغه څه چي زه پوهیږم تاسي نه پوهیږي . )) آدم علیه السلام خلق سو اودژوندانه دسمون ټوله لاري چاري ور وښوولي سوې بیا یې ملا ئکو ته وویل ورسی اود آدم څخه تپوسونه وکړی ملا ئکو چي دعبادت نه بل څه نه زده وه اونه یې لیدلي وه نو د آدم علیه السلام څخه پوښتني وکړې او هغه ټوله جوابونه ورته وویل نو ملا ئکي ټوله حیرانه پاته سوې د پروردګارعالم پرقول او وینا باندي یې اقرار وکړاو پوه سوه چي پروردګارعالم ترموږ لوړ مخلوق پیدا کړیدی اوهم یې وهغوي ته کرامت ورکړیدی لکه چي قرآن ددې خبري تا ئید داسي کوي (( وکرمنا بني آدم. ((

دلته زموږ هدف ددې جملو څخه معلوم اوثابت سو چي علم برتره تر عبادت دی . عبادت شخصي ګټه ده اوعلم دانسانانو د پاره خدمت دی . دعلم په واسطه دالله پیژندنه منځ ته راځي هغه څوك چي الله نه پیژني اویا د هغه په احکاموباندي اعتماد اوعقیده نلري او یياهم د هغه په احکامو کي سستي کوي یوې خواته ، اوهغه څوك چي درب العزت وحدانیت مني اودهغه وبندګانو ته دنیکي لاري ښوونه کوي اوپه دې لاره کي زحمتونه اوربړونه ګالي اوځان خاص دالله د رضا دپاره وقف کوي بله خوا، آیادادواړه سره برابردي ؟

نه : هیڅکله سره برابرنه دي . پروردګارعالم هم په دې باره کي داسي فرمايي  قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ( الزمر 9 آیت )

ترجمه : ووایه یارسول الله آیابرابر  دي هغه کسان چي علم لري اوهغه کسان چي علم نلري ؟

تفسیر: داچي پروردګارعالم دعلم درجه ډیره کړې ده عالم یې تربې علمه برتره بللی دی اوموږ هم دعلم درجه لوړه بولو نو

څنګه دیوه انسان دبې علمی وسایل اوزمینه برابروو اوپه دې لاره کي بیا د بیځایه د لا ئیلو په وړاندیز باندي تینګارکوو . حال داچي پروردګارعالم ښځه د نارینه د پاره داسي ګڼلي ده لکه دسړي د پاره لباس وګوري هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَدَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ ( 187) البقره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : دغه ښځې لباس دي ستاسي د پاره اوتاسي لباس يي ددې ښځو دپاره . آياداسي انسان سته چي خپل لباس د ځانه څخه وباسى او بيا ځانته عاقل ووايي ؟

ددي ټولوبې علميومسوْ ليت د وخت د حاكمانوپه غاړه دی.

تمت با الخير

لمړى ټوك

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**